


Download from: www.aghalibrary.com

| مضمون | مخ |
|---|---|

١: د پیل خبري ............................................ ٣
٢: د حدیثو د لویي دورې نصاب ............................ ۴
٣: د حدیثو د دورې بنیادي کتابونه ........................ ۴
۴: د حدیثو د دورې ضمني کتابونه ........................ ۵
۵: د پام وړ ټکي ............................................ ٦
٦: د دورې اهمیت ........................................ ١٠
٧: پاملرنه ................................................ ١٢
٨: د دورې کتابونه او د هغو مولفین ........................ ١۴
٩: امام بخاري رحمة الله علیه .............................. ١۴
١٠: صحیح البخاري ........................................ ٢٢
١١: امام مسلم رحمة الله علیه .............................. ٢٦
١٢: صحیح مسلم ............................................ ٢٨
١٣: امام ترمذي رحمة الله علیه ............................ ٣٢
١۴: جامع الترمذي .......................................... ٣٣
١۵: امام ابو داود رحمة الله علیه .......................... ٣٦
١٦: سنن ابي داود ........................................... ٣٨
١٧: امام نسایي رحمة الله علیه ............................ ۴٢
١٨: سنن النسایي ........................................... ۴٣
١٩: امام ابن ماجه رحمة الله علیه .......................... ۴۴
٢٠: سنن ابن ماجة .......................................... ۴۵
٢١: امام مالک رحمة الله علیه ............................. ۴٧
٢٢: موطا مالک ............................................. ۴٩
٢٣: امام محمد رحمة الله علیه ............................. ۵١
٢۴: موطا محمد ............................................. ۵٢
٢۵: امام طحاوي رحمة الله علیه ............................ ۵۵
٢٦: شرح معاني الاثار ...................................... ۵٦

Download from: www.aghalibrary.com

# د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم : د فضیلت پګړۍ

مؤلف : شیخ الحدیث مولوي محمد عمر خطابي

د چاپ کال : ۱۳۹۰ د جوزا میاشت

د چاپ وار : لمړی .

د چاپ شمېره : ۴۰۰۰

دا کتاب په وړیا ډول د تعلیم الاسلام راډیو له خوا د نبوي احادیثو مینه والوته ډالۍ کېږي.

Download from: www.aghalibrary.com

سرچینه: http://www.taleemulislam-radio.com

بسم الله الرحمن الرحيم

## مقدمة

( د پيل خبري )

الحمد لله الذي ارسل رسوله رحمة للعالمين و جعله اسوة حسنة و مبينا لكتابه المجيد و الصلوة و السلام علي سيد المرسلين و علي آله و صحبه و من تبعهم باحسان الي يوم الدين و بعد :

دا رساله ( د فضيلت پګړۍ ) چي ستاسو په لاس کي ده ، د دې د پاره تاليف سوې ده چي د هغه ستر وياړ او افتخار و لور ته د طلباء کرامو او د ديني علومو د مينه والو لارښوونه وکړي چي په لاس ته راړلو سره يې وطالب العلم ته د فاضلتوب د فضيلت پګړۍ پر سر ور ايښودل کيږي او د سيمه ايزي اصطلاح له مخي ملا طالب اخند ته د مولويتوب د لقب وياړ په برخه کيږي او د دوئ د وياړني او سرلوړۍ په مناسبت په ديني مدارسو کي لويي لويي غونډي جوړيږي .

دا رساله ( د فضيلت پګړۍ ) و ټولو فاضلانو ، طلباء کرامو او د قرآني او نبوي علومو مينوالو ته د تعليم الاسلام راډيو لخوا په وړيا ډول ډالۍ او تحفه کيږي .

پدې رساله کي تاسو ته د بخاري ، مسلم ، ترمذي ، ابوداود او د حديثو د دورې د نورو کتابونو په هکله په لنډ ډول ګټور معلومات وړاندي کيږي او همدا ډول د همدغو کتابونو د مؤلفينو لکه امام بخاري ، امام مسلم او داسي نورو محدثينو تعارف او هم يې ځيني علمي آثار درپېژندل کيږي ترڅو په همدې لنډو معلوماتو سره مو د حديثو د کتابونو او محدثينو سره پېژندنه او معرفت حاصل سي او هم د حديثو د دورې اهميت او څرنګوالی درته معلوم سي .

د دې علاوه د همدې رسالې په ذريعه و هغو طلباء کرامو ته چې وړه دوره يې بشپړه کړې ده او په راتلونکي تعليمي کال کي يعني د روژې تر مياشتي وروسته د حديثو و لويو دورې ته چمتو دي خبر ورکول کيږي ، چې د کندهار په ښار کي د حديثو د لويي دورې هغه دارالحديث چې د څه مدې د پاره موقتنا معطل پاته وو اوس ان شاء الله يو ځل بيا د همدې دارالحديث دروازه د حديثو د دورې د طالبانو او د نبوي علومو د مينوالو پر مخ خلاصه او پرانستل کيږي .

ان شاء الله په راتلونکي تعليمي کال يعني د ۱۴۳۲ هجري قمري کال د شوال په مياشت کي به طلباء کرام د حديثو د دورې د پاره د يو بل په زړه پورې دارالحديث انتخاب هم په مخ کي ولري .

د کوچني اختر په مياشت کي ان شاء الله طلباء کرام کولای سي چي پر شيخ الحديث مولوي محمد عمر خطابي باندي د حديثو مهمه دوره پيل کړي ترڅو د حديثو مهمه دوره په بشپړ او مکمل ډول څه ډول چي پکار ده وپای ته ورسوي .

د مقصد په خبرو پيل کوو و ما توفيقي الا بالله و به نستعين و هو السميع العليم .

د حديثو د لويي دورې نصاب

د طالب العلم د پاره ډېره مهمه ده ، چې د حديثو د لويي دورې نصاب يعني تدريسي کتابونه وپېژني ځکه کله ځيني طلباء د ناخبرتيا لکبله نيمګړې او ناقصه دوره کوي .

د حديثو د لويي دورې د نصاب په کتابونو کي يو تعداد کتابونه بنيادي او اساسي حيثيت لري او يو شمېر نور کتابونه بيا په ضمني ډول ورسره لوستل کيږي .

د حديثو د دورې بنيادي کتابونه ؟

د حديثو د دورې بنيادي کتابونه په لاندي ډول دي :

(۱) صحيح البخاري (۲) صحيح مسلم (۳) جامع الترمذي (۴) سنن ابي داود دا ځلور واړه د حديثو د دورې بنيادي کتابونه دي . پورتني ځلور واړه کتابونه د تعليمي کال د پيل څخه بيا تر پای پورې هر کتاب د اول څخه تر اخير پورې لوستل کيږي او دا ځلور واړه کتابونه په صحاح سته کي تر ټولو مهم کتابونه دي .

د حديثو د دورې ضمني کتابونه :

سنن النسايي ، سنن ابن ماجه ، موطا مالک ، موطا محمد او د طحاوي شرح معاني الاثار د حديثو د دورې ضمني کتابونه دي .

ضمني کتابونه و هغو کتابونو ته وايو ، چي د تعليمي کال په پای کي د هر کتاب د شروع څخه څه اندازه لوستل کيږي ترڅو د همدغو کتابونو د لوستلو سره طلباء بلد سي او هم تبرک ترې حاصل کړي او د دې تر څنګ ددې کتابونو نومونه هم ژوندي وساتل سي .

صحيح البخاري ، صحيح مسلم ، سنن ابي داود ، جامع الترمذي ،سنن النسايي ، سنن ابن ماجه ، موطا مالک ، موطا محمد او د طحاوي شرح معاني الاثار په پورتني ترتيب د حديثو د دورې د پاره تر ټولو منل سوئ نصاب دئ ، د ډېرو هيوادونو په سترو او وړو مدرسو کي پورتني کتابونه د حديثو په لويه دوره کي تدريسيږي او په ډاډه ويلای سو چي دا د حديثو د دورې د پاره تقريبا عالمي نصاب دئ .

نو په همدې اساس دا پر ځای خبره ده که يو طالب العلم د پورتنيو کتابونو څخه پر يوه يا دوو کتابونو بسنه وکړي يعني فقط بخاري او ترمذي ولولي نو هغه ته د حديثو د دورې څخه فارغ او فاضل ويل به مناسب کار نه وي ، ځکه په يوه او دوو کتابونو د دورې نصاب نه بشپړ کيږي .

څرنګه چي وړاندي هم يادونه سوې ده چي موږ ان شاء الله يو ځل بيا اراده کړې ده ، چي و دې عظيم علمي خدمت ته ملا وتړو او سږ کال د روژې څخه وروسته يعني د

۱۴۳۲ کال د شوال په مياشت کي د حديثو د دورې تدريس پيل کړو ، ځکه اوس الحمد لله هغه مصروفيتونه چي د همهغو په سبب مو څه مده د حديثو دوره تدريس نه کړای سوای تر ډېره حده را کم سوي دي او موږ به ان شاء الله د الله په توفيق وکولای سو چي د روژې څخه وروسته د روانو تعليمي شغلونو په څنګ کي د حديثو د دورې کتابونه هم د پورتني عالمي نصاب مطابق تدريس کړو .

موږ ان شاء الله د تيرو کلونو په شان د حديثو په دوره کي صحيح البخاري ، صحيح مسلم ، جامع الترمذي او سنن ابي داود په بشپړ ډول تدريس کوو او د تعليمي کال په وروستيو شيبو کي د سنن النسائي ، سنن ابن ماجه ، موطا مالک ، موطا محمد او د امام طحاوي د شرح معاني الاثار څخه څه څه برخه تدريس کوو ، خو د دې تر څنګ زموږ په دوره کي د کال په پيل کي مصطلح الحديث ته هم ځای ورکول سوئ دئ ، دا ځکه چي زموږ د سيمي زيات شمېر طلباء په وړه دوره کي د مصطلح الحديث يعني د اصول الحديث کتابونه نه لولي پداسي حال کي چي د لويي دورې د پاره د اصول الحديث فن دونه مهم دئ لکه د عامو علومو د پاره چي صرف او نحو څونه مهم بلل کيږي .

د اصول الحديث د پاره موږ معرفة الحديث في مصطلح الحديث کتاب انتخاب کړئ دئ او دا د بنده خپل تاليف دئ ، چي په پښتو ژبه د اصول الحديث د پاره اسانه او جامع تدريسي کتاب دئ او په تيرو دورو کي هم تدريس سوئ دئ .

کوم طلباء کرام چي زموږ د حديثو په دوره کي د ګډون اراده ولري نو هغوئ همدا اوس د معرفة الحديث غوښتنه په وړيا ډول د تليفون پر کرښه د تعليم الاسلام راډيو د دفتر څخه کولای سي .

د پام وړ تکي :

د حديثو د دورې د پاره راتلونکي څو ټکي ډېر مهم دي ، چي طلباء کرام يې بايد د پام څخه و نه غورځوي بلکي د ډېر اهميت په سترګه ورته وګوري .

**اول** : د حديثو د لويې دورې نصاب بايد په بشپړ او مکمل ډول ولوستل سي يعني د حديثو لويه دوره بايد پداسي دار الحديث کي وکړل سي ، چي هلته د دورې بشپړ نصاب تدريسيږي . د حديثو د دورې په نصاب کي بخاري ، مسلم ، ترمذي او ابوداود په بشپړ او مکمل ډول د کال د پيل څخه تر پای پوري تدريسيږي او د دې سره د کال په وروستۍ برخه کي د نسايي ، ابن ماجه ، موطا مالک ، موطا محمد او د شرح معاني الاثار اوايل يعني لومړنۍ برخي څه نا څه پکښي تدريسيږي لکه څه ډول چي وړاندي موږ وويل چي دا تقريبا د حديثو د دورې عالمي نصاب دئ .

طلباوو ته پکار ده چي په داسي ځای کي چي هلته د حديثو يو يا دوه کتابونه تدريسيږي د حديثو د طلايي دورې چانس د لاس څخه و نه باسي .

**دوهم** : د حديثو دوره بايد داسي ځای وسي چي هلته د حديثو تدريس په مسلکي ډول انجاميږي ، د حديثو دوره که په غير مسلکي ډول انجام سي نو په نتيجه کي چي کوم طلباء فارغه کيږي هغوئ به يا غير مقلد ګرځي يعني يو مخ به مذهب شاه ته پرېږدي او د سترو مجتهدينو لکه امام ابوحنيفة ، امام مالک ، امام شافعي او امام احمد بن حنبل رحمهم الله په هکله به دونه بد ګمانه کيږي ، چي د هغوئ مذهب به د حديثو خلاف تګ لاره ګڼي او يا به متعصب مذهبي ځني جوړيږي يعني داسي يو څوک به ځني جوړيږي چي حديث به شاه ته پرېږدي او احاديث به د خپل مذهب خلاف ور ته ښکاري ، ځکه په غير مسلکي دوره کي طلباوو ته مذهب او حديث داسي سره پرې او بيل کيږي لکه دوې متقابلي او مخامخ لاري چي څوک يې پر يوه لاره روان سي نو وهغي بلي لاري ته يې شاه کيږي .

پداسي حال کي چي په مسلکي دوره کي د حدیثو دقیق او ژور مفاهیم ، د احادیثو څخه د فقهاوو د استدلال طریقې او د مسائلو استنباط ، د متعارضو احادیثو تر منځ ترجیح او توفیق په ډېر ښکلي او قانع کونکي ډول طلباوو ته ښودل کیږي ، چي په نتیجه کي طلباوو ته دا په اثبات رسیږي چي د مذاهبو فقهي مشرب او سرچینه نبوي احادیث دي یعني نبوي حدیث او متبوعه مذهبونه دوې بیلي لاري نه دي لکه څه ډول چي غیر مقلدین یې ګمان کوي بلکي مذاهب د احادیثو په رڼا کي د مجتهدینو د علمي فقاهت او زیار په نتیجه کي را منځ ته سوي دي .

علاوه پر دې د حدیثو په مسلکي دوره کي د فقهي او عقیدوي مسائلو او احکامو دلایل او د هغو دلایلو څخه د استدلال او استنباط کولو استعداد هم په طلباوو کي را پیدا کیږي ، چي پدې سره د فقهاوو د ځینو هغو مسائلو چي پکښي خطا سوي دي او یا یې په یوه مسئله کي د دلیل له مخي کمزوری دریځ اختیاره کړئ وي هغه هم معلومیږي ، ځکه د مجتهدینو اجتهاد کله ناسم هم ثابتیږي او بل دا چي مجتهدین او فقهاء معصوم نه دي بلکي هغوئ هم کله د اشتباه او خطا ښکار ګرځي ، نو ځکه په مسلکي دوره کي د غیر مقلد یا متعصب مذهبي پر ځای د طالب العلم څخه رون آنده ، منصف او حق پالونکی مقلد جوړیږي په لنډ ډول ویلای سو چي د حدیثو مسلکي دوره که د یوې خوا د نبوي ارشاداتو د عالي مفاهیمو د پوهاوي ستره وسیله ده د بلي خوا د قرآنکریم د پاره تفسیر او هم د فقهي مسائلو او احکامو د دلایلو څخه د خبرتیا یوه ستره علمي منبع ده .

**دریم :** د حدیثو دورې ته باید پوره وخت ورکول سي او د دورې په کال طالب العلم باید تر بل هر وخت زیاد زیار او محنت وګالي ، درسونه یې د یو سخت عذر څخه پرته د معمولي معمولي کارونو یا مادیاتو د لاس ته راوړلو لکبله ناغه نه کړي بلکي هره ورځ د درس د پیل څخه بیا تر پایه په ټولو کتابونو کي ګډون وکړي او ډېر زیات محنت

پکښې وګالي ، ځکه د دورې کال د هر طالب العلم د پاره تر نورو تعلیمي کلونو خورا زیات مهم دئ . دا د طلباوو د کلونو کلونو د محنت ګاللو د ثمر او مېوې اخیستني کال دئ .

د حدیثو دوره داسي مثال لري لکه څوک چي نهالګي کښېږدئ ، په کلونو کلونو زیار او محنت په وګالئ څو نهالګي پر مېوه راسي ښکاره خبره ده باغوان چي په باغ کي په کلونو کلونو محنت ګالي هغه د مېوې لاس ته راوړني د پاره دئ . د مېوې په کال که باغوان د باغ په پالنه کي بې پروایي او تمبلي وکړي نو د کلونو کلونو محنت یې ضایع او عبث کیږي .

دا هر څه فنون چي ویل کیږي دا مقصودي نه دي بلکي دا ټول د قرانکریم او د نبوي احادیثو د زده کړي د پاره لوستل کیږي . که څوک یوازي د فنونو یعني صرف ، نحو معاني او داسي نورو پر لوستلو بسنه وکړي او د کوم مقصد د پاره چي دا فنون لوستل کیږي هغه ځني پاتیږي او یا د اهمیت په سترګه نه ورته ګوري د هغه مثال داسي دئ لکه څوک چي د کعبې شریفي په نیت سفر پیل کړي ، د شپې او ورځې دښتونه طی کوي خو کعبې ته تر رسېدلو دمخه د کربلا پر دښت سفر ته خاتمه ورکوي او یا د کربلا و زیارت ته د کعبې تر زیارت اهمیت ورکوي نو لکه څرنګه چي د کربلا په زیارت څوک حاجي کېدلای نسي همدا ډول یوازي د فنونو په لوستلو څوک د انبیاوو وارث کېدلای نسي .

د دین د احکامو اصل قرآن ، حدیث ، اجماع او قیاس دئ ، اجماع او قیاس که څه هم د شرعت د احکامو د پاره دریم او څلورم اصل او دلیل دي خو دا دواړه د قرآن او حدیثو تابع دي او قرآن او حدیثو ته راجع کیږي ، ځکه د اجماع حجتیت پرقرآن او حدیثو موقوف دئ او د قرآن او حدیثو خلاف اجماع کېدلای نسي .

قیاس بیا دې ته وایي چې په قرآني ایت، نبوي حدیث یا اجماع یو حکم ثابت سوئ وي که د هغه حکم علت او وجه څرګنده سوې وه خو ښه که نه نو مجتهدین او فقهاء د هغه حکم علت څیړي ترڅو معلومه کړي چې دا حکم د څه کبله سوئ دئ ؟ څه وجه ده چې دا کار جایز یا ناجایز بلل سوئ دئ ؟

څه مهال چې فقهاوو ته د حکم علت څرګند سي نو بیا دا حکم په قیاس وهر هغه شي ته ثابتوي چې په هغه کي د دې حکم علت ومندل سي ، نو ځکه قرآنکریم او نبوي احادیث د دین د ټولو احکامو د پاره یوازنی منبع او مصدر دئ ، دا چې د دین احکام په قرآن او حدیثو ثابتیږي نو د دیني علومو طالب باید په قرآن او حدیثو ځان پوه او خبر کړي .

د قرآن زده کړه بېله نبوي احادیثو څخه کېدلای نسي تر داسي اندازې چې په قرآن کریم کي د لمانځه او زکات حکم په ډېرو ایتونو کي راغلی دئ ، خو بیا هم که نبوي احادیثو ته و نه کتل سي نو د قرآن څخه د لمانځه او زکات ترتیب او ټول مسایل څوک فهمولای نسي .

قرآنکریم چې الله پر محمد ﷺ نازل کړئ دئ هغه د دې د پاره چې محمد رسول الله امت لره د قرآن معنا او مفهوم بیان کړي او د دې ستر الهي کلام مقاصد او احکام په شفاهي او عملي ډول ور ته تشریح کړي لکه څنګه چې الله فرمایلي دي :

وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ (سورة النحل ايت ٤٤)

ژباړه : او موږ تا لره قرآن نازل کړ ترڅو ته خلکو لره د هغه کتاب مقاصد بیان کړې کوم چې دوئ لره نازل سوی دئ او ښایي دوئ هم غور او فکر پکښې وکړي .

رسول الله ﷺ د بعثت څخه وروسته په خپل درویشت کلن ژوند کي قرآن په شفاهي او عملي ډول امت لره تشریح کړئ دئ . رسول الله ﷺ چې په کوم ترتیب سره لمونځ اداء کاوه همدا د أَقِيمُوا الصَّلَاة د آیت تفسیر او بیان دئ .

دا چي د دين د پاره قرآن او حديث مستقل اصل او دليل دئ او د ډېرو قرآني ايتونو په مراد او معنا پوهېدل پر حديثو موقوف دي نو دا پخپله د حديثو د دورې د اهميت د پاره ستر دليل دئ نو ځکه طلباوو ته پکار ده چي د حديثو دوره په ډېر اهتمام او کوښښ سره وکړي ، پوره وخت ورکړي کله هم تر وخت ناوخته يا غيرحاضري او تمبلي پکښې و نه کړي .

د دورې اهميت :

مور او پلار چي خپل اولادونه مسجد او مدرسې ته بيايي او يا يو طالب په خپل شوق او رغبت کور او کهول شا ته پرېږدي دلته او هلته په يوه او بل مسجد او مدرسه کي د نورو تر احسان ځان لاندي کوي دا هر څه د دې د پاره کوي چي د انبياوو د وراثت لوړ شرف حاصل کړي .

د انبياوو څخه سره او سپين زر ، مال او دولت په ميراث نه دي پاته سوي بلکي د انبياوو څخه چي کوم شی په ميراث پاته سوئ دئ هغه علم دئ رسول الله ﷺ فرمايلي دي :إن العلماء ورثة الأنبياء إن الأنبياء لم يورثوا دينارا ولا درهما إنما ورثوا العلم فمن أخذ به أخذ بحظ وافر (رواه الترمذي عن أبي الدرداء)

ژباړه : يقينا علماء د انبياوو وارثان دي ، واقعا انبياوو دينار او درهم په ميراث نه دي پرېښي بلکي هغو علم په ميراث کي پرېښی دئ نو که چا دا علم حاصل کړ هغه لويه ونډه لاس ته راوړله .

هغه علمي ميراث چي د محمد ﷺ څخه په ميراث امت ته پاته سوئ دئ هغه نه د فزيک او کيميا علم دئ ، نه د صرف او نحو علم دئ ، نه د معاني او بيان علم دئ ، نه د عروض او منطق علم دئ او نه د فلسفې او ساينس علم دئ ، ځکه دا علوم ځيني يې د انسانانو د عقلونو او تجربو محصول دي لکه فزيک کيميا او طب او ځيني نور بيا د

ژبي اړوند علوم دي لکه د عروض علم چي د شعر او شاعرۍ سره ارتباط لري رسول الله ﷺ شاعر نه وو الله جل جلاله فرمايي :

وَمَا عَلَّمْنَاهُ الشِّعْرَ وَمَا يَنْبَغِي لَه (سورة يس ايت ٦٩)

ژباړه : او موږ و محمد ته شعر نه دئ ښولی او نه شعر د ده پاره ښايي .

صرف ، نحو ، معاني ، بيان او د دې سره تړلي نور علوم ادبي علوم دي يعني د عربي ژبي سره تړاو لري د دغو علومو تدوين که څه هم د رسول الله ﷺ د بعثت څخه وروسته سوئ دئ ، خو دا علوم د هغه مهال څخه چي عربي ژبه په وجود راغلې ده شتون يې لاره د عربو په ادبي ژبه کي ادب پوهانو او شاعرانو د همدغو علومو د اصولو او قواعدو مطابق ږغېدل په نثر او شعر کي يې د دې علومو د اصولو رعايت کاوه . منطق او فلسفه د ارسطو او کفري فيلسوفانو څخه پاته سوئ علمي ميراث دئ .

د پورتنيو علومو څخه چي يو شمېر علوم يې په مدرسو کي لوستل کيږي هغه د دې کبله نه تدريس کيږي چي دا د رسول الله ﷺ څخه پاته سوئ علمي ميراث دئ بلکي دا ټول آليه او غيرمقصودي علوم دي ، د قرآن او حديثو د زده کړي د پاره لوستل کيږي دا ځکه چي قرآن او نبوي احاديث په عربي دي نو د عربي ژبي د ادبي علومو څخه پرته د قرآن او حديثو په معنا پوهېدل ګران کار دئ .

خو که څوک ټول فنون ولولي او د قرآن او د حديثو د علم څخه بې برخي پاتي سي هغه ته د انبياوو وارث نه ويل کيږي ځکه د رسول الله ﷺ څخه چي کوم علم په ميراث پاته سوئ دئ هغه قرآن او حديث دي او دا دواړه آسماني وحي دي .

طلباء چي په کلونو کلونو د علم په تلاښ کي زيار او محنت ګالي ، شپې رڼوي د دوئ د علمي سفر مقصودي منزل د قرآن او حديثو زده کړه ده . دا هر څه فنون چي طلباء لولي دا ټول د قرآن او حديثو د زده کړي د پاره د استعداد پيدا کولو په غرض لولي .

د همدې څرګندولو څخه به تاسو ته د حديثو د دورې اهميت معلوم سوئ وئ هغه دا چې د طالب د کلونو کلونو د علمي سفر مقصودي منزل همدا د حديثو دوره او د قرآن زده کړه ده . احاديث ديوه اړخه د قرآن شرح ده او د بله اړخه بيا د فقهي مسائلو دلايل دي نو که څوک غواړي د رسول الله ﷺ وارث د ځان څخه جوړ کړي نو د هغه دا ستره او د ستايني وړ هيله به هغه وخت پوره کيږي چې د حديثو د لوستلو شرف ور ته حاصل سي

پـــا مــلــرنـــه :

يو شمېر طلباء او ملا امامان داسي هم سته چې د هغو څخه د يو لړ اقتصادي يا کورني مشکلاتو او کاروباري مصروفيتونو لکبله علم پر نيمه لار پاته سوئ وي ، په دې کسانو کي ځيني خو لا داسي هم سته چې د احاديثو د دورې د پاره يې لازم فنون هم لوستي وي او د دورې د پاره علمي استعداد لري ، خو د دورې د شرف څخه د يو لړ اقتصادي او کورني مشکلاتو لکبله بې برخي سوي وي دا ډول ملا امامان که څه هم سپين ږيرتوب ته رسېدلي وي بيا هم د پېرزويني له مخي د هغو څخه غوښتنه لرو چې په هر قيمت وي بيا هم د حديثو دوره په يو مناسب دارالحديث کي پيل کړي نو ر دي د نن څخه د سبا په هيله د دې عظيم نعمت څخه ځان نه بې برخي کوي .

هغه طلباء چې د دورې د پاره يې لازم فنون لوستي نه وي ، د دورې د پاره پوره وړتيا او استعداد نه لري او د ځينو ستونزو لکبله د علم زده کړه ځني پاته سوې وي او نور د عمر د زياتوب يا دنياوي شغلونو لکبله د علم د زده کړي هيلي يې د ناهيلۍ سره مخ سوې وي دا ډول کسان په ځانګړي ډول که د امامت دنده يې مخ ته بيول که د زده کړي د بشپړولو د پاره کلونه کلونه وخت نسي ورکولای لږ تر لږه د يوه کال د پاره دي په دوره کي د سامع په ډول ګډون وکړي ، دا کس که څه هم د دورې استعداد نه لري خو بيا هم د دورې د درسونو څخه يو اندازه برخمن کېدلای سي .

د حدیثو دوره دونه د فیوضاتو ډکه تعلیمي حلقه ده ، چې امي لا هم د امیتوب سره په بینا کیږي او د عقیدې او اخلاقو اصلاح یې په راځي . د حدیثو په دوره کې چې هر څوک ګډون کوي هغه که د دورې استعداد ولري او که یې و نه لري پر هغه باندې د نبوي احادیثو د اورېدلو لکبله داسې کیفیت راځي لکه دی چې د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامو رضي الله عنهم سره سهار او ماښام په هر مجلس کې ناست او مل وي .

راځئ چې اوس د حدیثو په دوره کې د لوستل کېدونکو کتابونو او د هغو د مؤلفینو تعارف در ته وکړو ، په دې هیله او امید چې د دې سترو اشخاصو د ښکلو صفاتو او معطرو خویونو د ښکلا او خوشبو څخه موږ هم متاثره سو او په دوئ پسې اقتداء وکړو .

و الله ولي التوفیق .

د دورې کتابونه او د هغو مولفین :

د حدیثو په دوره کې صحاح سته او درې نور د حدیثو کتابونه تدریسیږي .

صحاح سته د احادیثو و هغو شپږو کتابونو ته وایي ، چې په هغو کې رانقل سوي حدیثونه په مجموعي ډول د سند له مخې و ټول عالم اسلام ته د منلو وړ او ثابت حدیثونه دي.

د الصحاح الستة نومونه پدې ډول دي :

صحیح البخاري ، صحیح مسلم ، جامع الترمذي ، سنن ابي داود ، سنن النسایي ، سنن ابن ماجه ، د یادوني وړ ده چې صحاح سته هم خپل منځ کې تفاوت او درجې لري په لاندې کرښو کې د حدیثو د دورې د نهو کتابونو د هر کتاب او د هغه مؤلف درپېژنو .

دا د فضیلت پګړۍ ان شاء الله په چاپي بڼه تاسو ته ډالۍ کوو په دې هیله او امید چې یو ورځ مو د فضیلت پګړۍ پر سر راتاو سي او یا مو د خپلو بچو او طلباوو د

فضيلت د پګړۍ هڅي ګړندۍ او د هغوي مقصودي منزل ته پوره پام سي داسي نه سي چي بچي او طلباوو مو د کعبي په نيت راوتي خو کعبې ته ئې شاه کړې او مخ پر ترکستان ځني روان وي .

اول : امام بخاري رحمة الله عليه

د صحيح البخاري د مؤلف کنيت أبو عبدالله دئ ، نوم او نسب يې محمد بن اسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة بن بردزبه الجعفي دئ . بردزبه د فارس دئ او د فارسيانو پر دين وو البته د بردزبه زوی مغيره چي د بخاري ورنيکه کيږي د بخارا د والي په لاس ايمان راوړی دئ . د بخارا والي يمان الجعفي نومېدئ نو د اسلام د ولاء لکبله بخاري ته جعفي هم ويل کيږي .

حافظ بن حجر رحمة الله عليه وايي د بخاري د نيکه إبراهيم بن المغيرة په هکله معلومات نه لرم البته د بخاري پلار اسماعيل بن ابراهيم د ابن حبان په وينا د حماد بن زيد او مالک رحمهما الله څخه حديث اورېدلي دي .

امام ذهبي رحمة الله عليه په تاريخ الاسلام کي وايي چي د بخاري پلار د ښه تقوا لرونکو علماوو څخه وو . أحمد بن حفص رحمة الله عليه وايي : زه د بخاري پلار ته ورغلم هغه د مرګ په حالت کي وو ما ته يې وويل : زما د علم له مخي زما په ټول مال کي يو شکمن درهم لا هم نسته .

دا د حلالي نفقې اثر هم دئ چي الله جل جلاله د اسماعيل د زوئ څخه امام بخاري غوندي ستر امام جوړ کړئ .

امام بخاري رحمة الله عليه په ۱۹۴ هجري سنه کي د شوال پر ۱۳ نېټه د جمعې په ورځ تر لمانځه وروسته په بخارا کي زېږېدلی دئ او په ۲۵٦ هجري سنه کي د شنبې په شپه چي د کمکي اختر شپه وه د ٦۲ شپېتو کلونو په عمر د خرتنک په کلي کي چي د سمرقند څخه ٦ ميله ليري واقع دئ وفات او همهلته ښخ کړل سوئ دئ .

بخارا د ما وراء النهر يعني د امو د سيند هغې خوا ته په پرتو ښارونو کې تر ټولو غټ ښار دئ د بخارا او سمرقند تر منځ ۸ ورځې د پياده تګ لاره ده .

بخاري رحمة الله عليه کوچنی وو چې پلار يې وفات سو او خپلې مور يتيم را لوی کړئ ويل کيږي چې بخاري په ماشومتوب کې په سترګو ړوند سو مور يې ابراهيم عليه السلام په خوب کې وليدئ ابراهيم عليه السلام د بخاري رحمة الله عليه و مور ته وويل : ستا د ډيرې ژړا او دعاو لکبله الله جل جلاله ستا د زوئ سترګې بينا کړې . همداسي وسوه او سهار بخاري په سترګو بينا وو.

ابو جعفر محمد بن ابي حاتم وايي : ما د بخاري څخه پوښتنه وکړه چې ستا د علميت کار څه ډول را پيل سو ؟ هغه را ته وويل : زه په مکتب کې د لسو کلونو يا تر دې لا هم کوچنی وم چې په زړه کې مي د حديثو د زده کړې فکر را ته پيدا سو د لس کلنۍ څخه وروسته د مکتب څخه ووتم يوې او بلې خوا ته د حديثو په تلاښ کې سوم

يوه ورځ استاذ داسي سند بيان کړئ سفيان عن ابي الزبير عن ابراهيم . ما ورته وويل : ابو الزبير د ابراهيم څخه روايت نه دئ کړئ استاذ زما ترټنه وکړه ما ورته وويل : که اصلي کتاب در سره وي نو هغه وګوره چې زما خبره درته ثابته سي. استاذ ننوت او بيا راووتئ او را ته وې ويل : اې هلکه ! سند څه ډول دئ ؟ ما ورته وويل : الزبير بن عدي عن ابرهيم استاد خپله ليکنه زما د وينا مطابق اصلاح کړه يعني ابو الزبير يې په زبير بن عدي وليکئ او وې ويل ته رښتنی او صادق يې .

د بخاري رحمة الله عليه يوه ملګري ورته وويل : ته پر دې مهال د څو کلونو وې ؟ بخاري ورته وويل : د يولسو کلونو وم .

بخاري رحمة الله عليه وايي په شپاړس کلنۍ کې مي د ابن المبارک او وکيع کتابونه ياد کړل او د اصحاب الراي يعني د فقهاوو په ويناوو هم وپوهيدم بيا د خپلې مور او خپل

مشر ورور احمد سره مکې ته ولاړم د حج د اداینې څخه وروسته مې ورور بخارا ته ستون سو او هلته وفات سو او بخاري په مکه کې د حدیثو د زده کړې د پاره پاته سو .

بخاري رحمة الله علیه وايي په اتلس کلنۍ کې مې کتاب قضايا الصحابة والتابعين وأقاويلهم تصنیف کړئ او همدا ډول التاريخ الكبير مې د نبي ﷺ د قبر سره د شپې د سپوږمۍ په رڼا کې ولیکئ .

امام بخاري رحمة الله علیه دونه ځیرک او د قوي حافظې څښتن وو ، ویل کیږي چې په وړکتوب کې یې اویا زره حدیثونه یو په بل پسې یاد وه او یو کتاب چې به یې یو ځل تر نظر تېر کړئ نو تېول به یې یاد سو بیا یې د هغه کتاب کتلو ته اړتیا نه درلودل .

محمد بن حمدويه وايي ما د بخاري څخه واورېدل هغه ویل : زما یو لک صحيح حدیثونه یاد دي او دوه لکه مې غیر صحیح حدیثونه یاد دي او د صحیح البخاري حدیثونه ما تقریبا د شپږو لکو حدیثونو څخه را ایستلي دي .

امام بخاري رحمة الله علیه د حدیثو د علتونو په پېژندنه کې دونه مهارت د رلودئ ، چې یو ځل امام مسلم رحمة الله علیه ورته وویل : اې د استاذانو استاذه ! د محدثینو سرداره ! د حدیثو د علتونو طبیبه ! اجازه را کړه چې ستا پښې در مچ کړم .

امام ترمذي رحمة الله علیه وايي : ما په تاریخ او د حدیثو د سندنو او علتونو په پېژندنه کې تر محمد بن اسماعیل یعني بخاري رحمة الله علیه غټ عالم نه په عراق او نه په خراسان کې لیدلی دئ .

احمد بن عدي وايي : ما د څو شیخانو څخه اورېدلي دي ، چې هغو حکایت کاوه چې بخاري و بغداد ته راغی نو څو تنو محدثینو وغوښتل چې بخاري رحمة الله علیه وازمایي نو د سلو حدیثونو متنونه او سندونه یې سره واړول د یوه حدیث متن یې د بل حدیث و سند ته واړوئ او بیا یې یوه یوه نفر ته لس لس حدیثونه ورکړه ترڅو بخاري ته یې واوروي ، د بغداد خلک او د دې ترڅنګ د خراسان او نورو وطنونو مسافر را ټول سول ،

څه مهال چې د خلکو مجمع جوړه سوه نویو تن ولاړ سو د خپلو لسو حدیثونو څخه یې د یوه یوه حدیث سند او متن بیانوه امام بخاري چې به د هر حدیث سند او متن واوریدئ نو ورته و به یې ویل : پدې حدیث علم نه لرم ،کومو کسانو چې د بخاري د امتحان لکبله د دې حدیثونو متنونه او سندونه اړولي وه هغو یوه و بل ته کتل چې سړی ډېر ځیرک او پوه دئ ، خو کوم کسان چې ناخبره وه هغو ته بخاري ﷫ کمزوری وښکارېده .

دې لسو کسانو چې هر یوه په نوبت لس لس حدیثونه بخاري ته واورول او بخاري د هر حدیث په جواب کي ورته ویل چې علم نه په لرم د دوئ د فراغت وروسته بخاري هر نفر ته د هغه د هر حدیث متن او سند بیان کړئ ، چې تا د اول حدیث متن داسي او سند داسي بیان کړئ خو د دې حدیث متن او سند اصلا داسي دئ .

دوئ چې دا سل حدیثونه په څه ډول ورته بیان کړي وه بخاري په هغه ډول ورته بیان کړل او غلطي یې هم ورته په ګوته کول چې د دې حدیث متن داسي او سند یې داسي دئ نو ټولو خلکو د امام بخاري پر ځیر کتیا ، قوي حافظې او علمیت اعتراف وکړئ او دا د الله فضل دئ چې چا ته وغواړي هغه ته یې ورکوي .

امام بخاري ﷫ ډېر کتابونه تصنیف کړي دي لکه الأدب المفرد ، بر الوالدین ، تاریخ الکبیر ، تاریخ الأوسط ، تاریخ الصغیر ، خلق افعال العباد .

حافظ ابن حجر ﷫ وایي : دا کتابونه ټول موجود دي او په اورېدلو یا اجازه یې موږ ته روایت سوئ دئ .

امام بخاري ﷫ له دې پرته نور تصنیفونه هم لري لکه ، جامع الکبیر ، مسند الکبیر ، تفسیر الکبیر ، کتاب الأشربة ، کتاب الهبة ، أسامي الصحابة ، کتاب الوحدان ، کتاب المبسوط ، کتاب الکنی او کتاب الفوائد .

د امام بخاري رحمه الله په حفظ ، تقوا او زهد د ده موافق او مخالف ټول قایل وه او په محدثینو کي د امیر المؤمنین في الحدیث ، ناصر الأحادیث النبویة او ناشر المواریث المحمدیة په لقب یادېدئ .

امام احمد بن حنبل رحمه الله وایي : خراسان د محمد بن اسماعیل په شان بل نه دئ زېږولی .

د بخاري اومسلم شیخ محمد بن بشار رحمهم الله وایي په نړۍ کي د حدیثو حافظان څلور دي ابو الزرعة په ري کي ، مسلم په نیشاپور کي ، دارمي په سمرقند کي او بخاري په بخارا کي .

علي بن حجر رحمه الله وایي : بخاري په دوی ټولو کي زیاد پوه ، بصیرت والا او ځیرک وو .

دې ته ورته بې شمېرو سترو امامانو امام بخاري په ډېرو خوږو او د واقعیت موافق عبارتونو کي ستایلی دئ .

امام بخاري رحمه الله په روژه کي هره ورځ یو یو ختم کاوه او د تراویح څخه وروسته د شپې په لمانځه کي یې په هرو درو شپو کي ختم کاوه او د پېشلمي په مهال یې دیارلس رکعته تهجد کاوه .

امام بخاري رحمه الله د چا غیبت نه کاوه او ویل یې چي زه امید لرم چي په آخرت کي به الله جل جلاله د چا د غیبت حساب راسره و نه کړي او وایي د څه مهال څخه چي زه پدې پوهېدلی یم ، چي غیبت خپله غیبت کونکي ته زیان رسوي نو د هغه وخت څخه مي د چا غیبت نه دئ کړئ .

یو چا بخاري رحمه الله ته وویل چي ځیني کسان ستا د تاریخ د کتابونو لکبله تا ته ګوته نیسي او وایي چي په تاریخي حکایتونو کي د خلکو غیبت راځي ، بخاري ورته

وويل : هغه موږ د نورو څخه د روايت په ډول بيان کوو موږ يې د خپله ځان څخه نه بيان وو .

امام بخاري رحمة الله عليه ته د خپل پلار څخه ډېر مال په ميراث پاته سو د هغه څخه يې صدقه اوخيرات کاوه ، د طالبانو سره يې ډېر احسان کاوه او په سخاوت کي يې لاسونه اوږده وه او خوراک يې هم ډېر کم کاوه .

امام بخاري رحمة الله عليه چي نيشاپور ته ورتلی نو د نيشاپور خلک او علماء دوه درې رباطه مخته د استقبال د پاره ور ته راوتلي وو او څه مهال چي بېرته بخارا ته ستنېدئ نود ښار څخه درې ميله دباندي د استقبال د پاره خېمه ورته درول سوې وه .

په بخارا کي يې څه مده تدريس کاوه ، د ښار امير خالد بن محمد الذهلي چي د عباسي خلافت نائب وو د بخاري سره نرمي کوله او غوښتنه يې ځني لرل چي صحيح البخاري د ده په قصر کي ور ته تدريس کړي خو بخاري د دې کار څخه منع وکړل او قاصد ته يې وويل چي والي صاحب ته ووايه : زه علم نه خواروم او نه علم د پاچاهانو دروازو ته وروړم که دی و علم ته څه اړتيا لري نو زما مسجد او کور ته دي راځي .

خو که دا خبره يې خوښه نه وي نو بيا خو دی واک لري زما د تدريس مخه دي ونيسي ترڅو د قيامت په ورځ د الله جل جلاله په حضور کي عذر ولرم زه خو علم نه سم پټ کولای .

والي بيا نفر ورته راولېږی چي زما و اولادونو ته يوه ځانګړې تدريسي حلقه جوړه کړه او نور کسان مه ور سره پرېږده بخاري د دې څخه هم منع وکړل او ويې ويل : دا جايز نه ده چي زه ځينو ته د حديثو د اورېدلو اجازه ورکړم او ځيني نور بيا ورڅخه منع کړم .

د بخارا د والي او امام بخاري ترمنځ اړيکي ترينګلي سوې او کرکه يې ترمنځ پيدا سوله ، خالد د بخارا والي حريث بن ابي الورقاء او نور علماء د امام بخاري په مخالفت

کي د ځان ملګري کړل ، هغو د بخاري پر تګ لاري او مذهب نيوکي وکړې او والي و امام بخاري ته د ښار څخه د وتلو امر وکړی .

بخاري رحمة الله عليه هغو ته داسي ښرا وکړه : يا الله د دوئ په ځانونو ، اولادونو او کورنيو کي په دوئ هغه څه وو وينه چي دوئ يې زما سره د کولو اراده کړې ده .

الله جل جلاله د بخاري ښرا د دوئ په حق کي قبوله کړه مياشت لا نه وه تېره سوې ، چي د عباسي خلافت لخوا د بخارا د والي خالد د بندي کولو او په ښار کي يې د رسوا کولو فرمان صادر سو ، خالد پرخرې باندي په ښار کي وګرځول سو او د مرګ تر مهاله په جيل کي پاته سو ، نورو کسانو چي د ده سره د امام بخاري په ځورونه کي مرسته کړې وه هغوی هم الله جل جلاله د سختتو کړاونو او مشکلاتو سره مخ کړل .

امام بخاري رحمة الله عليه چي څه مهال د بخارا څخه ووتئ نو د سمرقند خلکو خط ورته راولېږی او و سمرقند ته يې بلنه ورکړه ، امام بخاري د سمرقند په لور رهي سو ، د سمرقند څخه ٦ ميله دباندي د خرتنک کلی دئ ، څه مهال چي بخاري د خرتنک کلي ته ورسېدئ هلته يې خپلوان وه او د هغو سره ميلمه پاته سو امام بخاري په خرتنک کي وو چي خبر ورته راغی چي په سمرقند کي د ده د ورتلو لکبله د خلکو تر منځ شخړه او جنجال را پيدا سوئ دئ ځيني کسان د بخاري د ورتلو پلوي کوي او ځيني نور يې بيا د ورتلو سخت مخالفت کوي .

امام بخاري رحمة الله عليه په خرتنک کي څه مده پاته سو ترڅو موضوع ښه روښانه سي پدې وخت کي بخاري ناروغ هم سو ، د سمرقند لخوا استازي راغلل او د بخاري څخه يې غوښتنه کول چي سمرقند ته ور سره ولاړ سي ، امام بخاري د هغو بلنه ومنل ، موزې يې په پښو کړې لنګوټه يې وتړل او د سپرلۍ پر خوا ور رهي سو فقط چي څو قدمه يې د سپرلۍ پر خوا واخستل ملګرو ته يې وويل : ما پرېږدئ ضعف را ته پيښ سو هغو هم

پريښوی ، يوه شپه يې تر لمانځه وروسته دعاوي وکړې په دعا کي يې دا هم وويل :
اللهم أنه قد ضاقت علي الأرض بما رحبت فاقبضني إليك .
ژباړه : يا الله ! ځکه د پراختيا سره پر ما تنګه سوه ته مي روح در قبض کړه .
بيا يې څنګ وواهه پسي وفات سو او تر بدن يې تر هغه مهاله چي په کفن کي پيچل کېدئ خولې وتلې .
امام بخاري رحمة الله عليه په ۲۵٦ هجري سنه کي د شنبې په شپه چي د کمکي اختر شپه وه د ٦۲ شپېتو کلونو په عمر البته ديارلس ورځي کم په خرتنک کي وفات او هلته ښخ کړل سو څه مهال چي لمونځ ورکول سو او په قبر کي کښېښودل سو نو د قبر د خاورو څخه يې څو ورځي د مشکو په شان ښه بوی ولاړيدئ
**بيت** : جمال همنشين در من اثر کرد          ورنه من همان خاکم که بودم
د ملګري ښکلا پر ما اثر وښنده که د ملګري اثر نه وای نو زه خو هغه خاوره يم چي مخته وم .
دا هم د امام بخاري رحمة الله عليه د مړيني څخه وروسته د هغه کرامت دی چي الله جل جلاله په خلکو وليده .
الله جل جلاله دي وموږ او تاسو ټولو ته د متقيانو ، عالمانو او صالحانو ملتيا را په برخه کړي ، ځکه د ښه ملګري ښه اثر او د بد ملګري بد اثر پر چا لويږي .
د ښه او بد ملګري د اثر مثال رسول الله صلى الله عليه وسلم داسي بيان کړی دئ :
مَثَلُ الْجَلِيسِ الصَّالِحِ وَالسَّوْءِ كَحَامِلِ الْمِسْكِ وَنَافِخِ الْكِيرِ فَحَامِلُ الْمِسْكِ إِمَّا أَنْ يُحْذِيَكَ وَإِمَّا أَنْ تَبْتَاعَ مِنْهُ وَإِمَّا أَنْ تَجِدَ مِنْهُ رِيحًا طَيِّبَةً وَنَافِخُ الْكِيرِ إِمَّا أَنْ يُحْرِقَ ثِيَابَكَ وَإِمَّا أَنْ تَجِدَ رِيحًا خَبِيثَةً (رواه البخاري عن ابي موسي)

ژباړه : د صالح او بد همناستي مثال د مشکو والا او د بنۍ والا دی مشک والا به یا مشک درکړي یا به مشک ځني رانیسې او یا به ښه بوی ځني بوی کړې او بنۍ والا یعني پښ به یا جامې په اور  دروسوزي او یا به یې د دودانو بد بوی در ته ورسیږي .

صحیح البخاري :

صحیح البخاري تر ټولو لومړنی کتاب دئ ، چې یوازي او یوازي صحیح احادیث پکښې را جمع سوي دي تر صحیح البخاري وړاندي که څه هم د حدیثو کتابونه تصنیف سوي وه خو په هغو کي د صحیح او مرفوع احادیثو څخه علاوه نور احادیث هم را جمع سوي وه .

شاه ولي الله دهلوي رحمة الله علیه وایي : تر ټولو په لومړي ځل کي چې محدثینو د حدیثو کتابونه لیکلي دي هغه یې په څلورو بېلابیلو فنونو کي لیکلي دي ، چا یوازي د سنن یعني د احکامو د فن احادیث د کتاب په شکل لیکلي دي لکه د امام مالک رحمة الله علیه موطا چا بیا د تفسیر په برخه کي احادیث لیکلي دي لکه د ابن جریج رحمة الله علیه کتاب او چا بیا د سیرت په برخه کي احادیث را جمع کړي دي لکه د محمد بن اسحاق کتاب چا بیا د زهد احادیث لیکلي دي لکه د ابن المبارک رحمة الله علیه کتاب .

امام بخاري رحمة الله علیه وغوښتل چې دا څلور واړه فنون یعني احکام ، تفسیر ، سیرت او زهد یو ځایي ولیکي او یوازي هغه احادیث پکښې ولیکي چې د بخاري څخه مخته او یا د بخاري په زمانه کي علماوو هغه صحیح احادیث بللي دي او هغه هم مرفوع او مسند وي یعني د رسول الله ﷺ فعل یا قول وي او په متصل سند را نقل سوي وي البته د صحابه کرامو ویناوي او معلق احادیث چې په بخاري کي را نقل سوي دي هغه تبعا دي یعني اصلا مقصود دي احادیث مرفوع او مسند احادیث دي .

نو له همدې کبله امام بخاري صحیح البخاري د : المسند الجامع الصحیح المختصر من أمور رسول الله ﷺ وسننه وأیامه په نامه نومولی دئ .

د دې نامه مقصد دا دئ چي په صحيح البخاري کي د رسول الله ﷺ ديني کارونه تګ لاري او ورځني واقعات په لنډ ډول په صحيح او متصل سند په هر اړخيز ډول پکښي را نقل سوي دي .

د الجامع مقصد دا دئ چي د احاديثو د هر باب احاديث پکښي را جمع سوي وي محد ثينو ټول احاديث پر اتو برخو يا بابونو باندي ويشلي دي چي عبارت دي له عقايد ، احکام ، تفسير ، رقاق ، سير ، تاريخ ، مناقب ، فتن او په بخاري کي د دې اتو بابونو احاديث راجمع سوي دي ، نو ځکه وبخاري ته جامع ويل کيږي .

د امام بخاري رحمه الله اصلي مقصد د صحيح او مسند احاديثو يوځايي را جمع کول دي ، خو د دې سره يې د مسائلو استنباط او په طلباوو کي د استدلال او استنباط د استعداد را پيدا کولو په موخه احاديث په بېلابيلو بابونو کي را نقل کړي دي او هر باب ته يې عنوان ورکړئ چي په اصطلاح ترجمة الباب ورته وايي او بابونو ته يې دا ډول ترجمې يا عنوانونه ورکړي دي ، چي د ده څخه وړاندي چا هم داسي علمي ابتکار نه دئ کړئ او علماوو هغه ته د حيرت ګوتي په غاښ نيولي دي .

د بخاري د بابونو ترجمې او عنوانونه د بخاري د فقاهت او ځيرکتيا ښکاره شواهد دي ، نو ځکه علماء وايي : فقه البخاري في تراجمه يعني د بخاري پوهه د هغه د بابونو د ترجمو او عنوانو څخه څرګنديږي .

ابن الصلاح رحمه الله وايي د بخاري احاديث د مکرر حديثونو په شمول ۷۲۷۵ حديثونه دي امام النواوي رحمه الله هم د ابن الصلاح شمېره صحيح بللې ده او څه تفصيل يې ورکړی دی خو ابن حجر بيا پر دې شميره ۱۲۲ حديثونه ور اضافه کوي او وايي چي د بخاري ټول حديثونه ۷۳۹۷ دي .

مکرر حديث که و نه شمېرل سي نو د بخاري ټول حديثونه ۱۶۰۲ کيږي خو د دې څخه علاوه د **۱۵۹** مرفوع حديثونو متنونه يې په معلق ډول هم ذکر کړي دي که دا هم ور سره جمع سي نو د بخاري د غير تکراري حديثونو شمېر ۱۷۶۱ ته رسيږي .

د بخاري د معلقو احاديثو شمېر ۱۳۴۱ ته رسيږي خو زيات شمېر پکښې تکراري دي .

د بخاري د کتاب په نامه عنوانونه لکه کتاب العلم او داسي نور ۱۶۰ کيږي او بابونه يې **۳۴۵۰** کيږي .

د بخاري رحمه الله د مشايخو او استاذانو شمېر چي په بخاري کي يې روايت ورڅخه کړئ دئ **۲۸۹** کسان دي او د بخاري هغه مشايخ چي د هغوی څخه مسلم روايت نه دی کړی بلکي يوازي بخاري روايت ځني کړئ دئ د هغو شمېر بيا **۱۳۴** کسان کيږي .

بخاري **۲۲** ثلاثيات لري يعني په درې کسيز سند يې د رسول الله ﷺ څخه متصل روايت کړئ دئ لکه څه ډول چي په کتاب العلم کي په باب إثم من کذب على النبي ﷺ کي وايي :

حدثنا مكي بن إبراهيم قال حدثنا يزيد بن أبي عبيد عن سلمة بن الأكوع رضي الله عنه قال سمعت النبي صلى الله عليه وسلم يقول : من يقل علي ما لم أقل فليتبوأ مقعده من النار .

ژباړه : نبي ﷺ وايي : که څوک پر ما داسي څه ووايي چي ما نه وي ويلي نو هغه دي په اور کي خپل ټيک ځای واخلي .

دا حديث بخاري د مکي هغه د يزيد هغه بيا د سلمه بن الاکوع په ذريعه د رسول الله ﷺ څخه بيان کړئ دئ .

صحيح البخاري د قرآن پاک څخه وروسته تر ټولو افضل او اصح کتاب دئ د امام بخاري څخه په ثابت سند حکايت کيږي چي وايي ما خوب ليدئ ، چي د رسول الله ﷺ په مخ کي ولاړ يم او په مچ شړوني د رسول الله څخه مچان شړم .د يو معبر څخه مي د

خوب تعبير وپوښتئ هغه را ته وويل ته به د رسول الله ﷺ څخه پر هغه باندي د دروغ ويلو مخ نيوى وکړې ، دغه خوب زه د صحيح احاديثو و را جمع کولو ته وهڅولم .

همدا ډول بخاري وايي زه د اسحاق بن راهويه په مجلس کي وم او د ده يو ملګري وويل : که يو څوک په مختصر ډول د رسول الله ﷺ صحيح احاديث چي د سند له مخي د صحت په خورا اعلى درجه کي وي را جمع کړي نو دا به ډېر ښه وي او د عمل کونکو د پاره به اسانتيا راولي او ودې ته به نه اړ کيږي چي ومجتهدينو ته د حديثو د صحت معلومولو د پاره مراجعه وکړي .

بخاري رحمة الله عليه وايي دې خبري زما په زړه کي ځاى ونيوئ او بيا مي صحيح البخاري تصنيف کړئ .

بخاري رحمة الله عليه وايي چي ما په صحيح البخاري کي چي هر حديث ليکلى دئ د هغه دمخه مي غسل او دوه رکعته لمونځ کړئ دئ او د شپاړسو کلونو په مده کي مي صحيح البخاري ليکلى دئ او د صحيح البخاري حديثونه مي د شپږو لکو حديثونو څخه را انتخاب کړي دي .

پر صحيح البخاري ډېري شرح ليکلي سوي دي ، چي د هغو يو شمېر په لاندي ډول دي :

١- فتح الباري شرح صحيح البخاري : دا د ابو الفضل احمد بن علي بن حجر العسقلاني الشافعي رحمة الله عليه شرح ده . عسقلاني ٨٥٢ هجري قمري سنه کي وفات سوئ دئ .

٢- عمدة القاري : دا د علامة بدر الدين ابو محمد محمود بن احمد العيني الحنفي شرح ده . بدر الدين عيني رحمة الله عليه په ٨٥٥ هجري قمري سنه کي وفات سوئ دئ .

(٣- اعلام السنن : دا د ابو سليمان احمد بن محمد بن ابراهيم بن خطاب البستي الخطابي رحمة الله عليه شرح ده . ابوسليمان د افغانستان د تاريخي ښار بست اوسيدونکى دى په ٣٨٨ هجري قمري سنه کي وفات سوئ دئ .

۴- شرح ابن بطال : دا د ابو الحسن علي بن خلف المالكي مشهور په ابن بطال رحمه الله شرح ده . غالبه يې د مالكي فقه ده . ابن بطال رحمه الله په ۴۴۹ هجري قمري سنه كي وفات سوئ دئ .

۵- التلويح : دا د حافظ علاء الدين مغلطاي بن قليج التركي المصري رحمه الله شرح ده . حافظ علاء الدين په ۷۰۲ هجري قمري سنه كي وفات سوئ دئ .

٦- الكواكب الدراري : دا د شمس الدين محمد بن يوسف بن علي الكرماني رحمه الله شرح ده . كرماني په ۷۸٦ هجري قمري سنه كي وفات سوئ دئ .

۷- فيض الباري شرح صحيح البخاري : دا د مولنا محمد انور شاه الكشميري رحمه الله شرح ده . مولنا محمد انور شاه كشميري په ۱۲۹۲ هجري قمري سنه كي زيږېدلى دئ او په ۱۳۵۲ سنه كي وفات سوئ دئ .

۸- ارشاد الساري : دا د احمد بن محمد الخطيب القسطلاني رحمه الله شرح ده . قسطلاني په ۹۲۳ سنه كي وفات سوی دئ .

دوهم : امام مسلم رحمه الله :

د صحيح مسلم د مؤلف كنيت ابو الحسين دئ نوم او نسب يې مسلم بن الحجاج بن مسلم بن ورد بن كوشاذ دئ .

امام مسلم ته د نسب له كبله القشيري او د وطن لكبله النيسابوري ويل كيږي . قشير د قاف په پېښ او د سين په زور د عربو مشهوره قبيلة ده او نيساپور د خراسان د ښارونو څخه يو ښار دئ .

امام مسلم د حديثو د علم په ډګر كي د ډېر لوړ شان او مقام څښتن وو د خپل عصر پر خلكو باندي يې په علمي مهارتونو كي وړانديتوب تولو ته منل سوئ وو آن تردې چي د مسلم رحمه الله د زمانې دوو سترو امامانو او د حديثو حافظانو ابو الزرعة او ابو حاتم

د مسلم پر ستر علمي مقام شاهدي ورکړې او دی يې د خپل عصر تر ټولو ستر عالم بللی دئ .

امام مسلم رحمة الله علیه په ۲۰۲ هجري کال کي زېږېدلی دئ ځيني وايي چي په ۲۰۴ هجري قمري کال کي او ځيني بيا وايي په ۲۰٦ هجري قمري سنه کي زېږېدلی دئ .

امام مسلم رحمة الله علیه د ۵۵ کلونو په عمر د نيسا پور ښخه بهر په نصرآباد کي د يکشنبې په ورځ پر ۲۵ د رجب په ۲٦۱ هجري سنه کي وفات سوئ دئ .

امام مسلم د يحيى بن يحيى النيسابوري ، أحمد بن حنبل ، إسحاق بن راهويه ، عبدالله بن مسلمة القعنبي رحمهم الله او نورو سترو مشايخو ښخه احاديث اورېدلي دي .

د امام مسلم رحمة الله علیه ښخه د خپلي زمانې غټو امامانو او د احاديثو حافظانو روايات کړي دي چي د هغو د ډلي ښخه ابو حاتم الرازي ، موسى بن هارون ، احمد بن سلمة ، ابو عيسى الترمذي ، ابو بکر بن خزيمة ، يحيى بن صاعد ، ابو عوانة الاسفرائيني رحمهم الله هم دي .

امام مسلم رحمة الله علیه ډېر ستر او ګټور کتابونه تاليف کړي دي لکه جامع الکبير على الأبواب ، مسند الکبير على أسماء الرجال ، الأسماء والکنى ، کتاب العلل ، کتاب الوحدان ، کتاب التمييز ، کتاب حديث عمرو بن شعيب ، کتاب مشايخ مالک ، کتاب مشايخ الثوري ، کتاب أوهام المحدثين ، کتاب من ليس له إلا راو واحد ، کتاب طبقات التابعين ، کتاب المخضرمين او داسي نور خو د امام مسلم تر ټولو ستر او مقبول کتاب صحيح مسلم دئ او دا کتاب د الله جل جلاله لخوا پر دې مسلمانان امت باندي يوه لويه پيرزوينه او احسان دئ .

صحيح مسلم د امام مسلم رحمة الله علیه پر اخلاص او علمي مهارتونو يو ستر شاهد دئ ، ځکه صحيح مسلم د حديثو د فن د عجائبو يوه لويه خزانه ده په ځانګړي ډول د احاديثو سندونه او متونه يې په داسي ښکلي ډول وډلي او بيان کړي دي چي د احاديثو

په کتابونو کي يې هيڅ ساری نه ليدل کيږي آن تر دې چي د سند او متن د وړني او بيان له مخي صحيح مسلم پر صحيح البخاري لا هم فوقيت او لوړتيا لري . که څه هم صحيح البخاري د راويانو د وثوق او اعتماد او نورو وجوهاتو لکبله د صحيح مسلم څخه مخته او لوړ دئ او د ټول امت په اتفاق د قرآنکريم څخه وروسته صحيح البخاري اصح د کتابونو دئ .

امام مسلم رحمة الله عليه د نبوي احاديثو سره دونه زياته علاقه لرل چي وايي يوه ورځ د حديثو د مذاکرې په مجلس کي چا د يو حديث يادونه ورته وکړه خو د لره په ذهن کي هغه حديث نه وريادېدئ د همدې حديث د تلاښ د پاره کور ته ننوتئ د خرما ټوکرۍ ورته را وړل سوه ، امام مسلم د حديث په فکر کي ووتر سهاره يې د حديث تلاښ کاوه او يوه يوه خرما به يې وخولې ته اچول او خوړل به يې. سهار يې حديث پيدا کړئ خو د حديث د تلاښ په فکر کي خوراک ته متوجه نه وو د ټوکرۍ ټوله خرما يې خوړلې وه او د همدې ډېر خوراک لکبله وفات سو .

وايي : أبو حاتم الرازي امام مسلم رحمة الله عليه په خوب کي وليدئ او پوښتنه يې ځني وکړه چي څه حال دي دئ ؟ هغه ورته وويل : الله تبارک و تعالي زما سره دونه احسان وکړئ چي د جنت په هر ځای کي يې د اوسېدو او تللو راتلو اجازه را ته کړې ده .

صحيح مسلم :

صحيح مسلم د أبو الحسين مسلم بن الحجاج القشيري الشافعي رحمة الله عليه تصنيف دئ او د هغو دوو صحيحينو څخه دئ چي تر قرآن کريم وروسته تر ټولو اصح کتابونه دي . صحيح مسلم په صحاح الستة ووکي دوهم مقام لري .

امام مسلم رحمة الله عليه وايي : ما صحيح مسلم د درو لکو اورېدل سوو حديثو څخه ليکلی دئ او په دې کتاب کي چي مي کوم حديثونه ليکلي دي هغه مي د حجت او

دلیل له مخي پکښي لیکلی دي او کوم شی چي مي نه دئ پکښي لیکلی هغه مي هم د حجت او دلیل په اساس پر بیښی دئ .

امام مسلم رحمة الله علیه وايي ما خپل کتاب صحیح مسلم و امام أبو الزرعة الرازي ته وړاندي کړئ هغه چي به په یو حدیث کي علت ته اشاره وکړه نو هغه حدیث به مي د کتاب څخه حذف او لیري کاوه او کوم حدیث چي به یې صحیح او بې علته وباله هغه مي په کتاب کي لیکئ .

امام مسلم د صحیح مسلم په مقدمه کي څرګندونه کړې ده چي ده په لنډ ډول بېله ډېر تکراره څخه د احکامو ، ثوابونو ، عذابونو ، ترغیبولو ، بېرولو او د نورو بابونو اړوند هغه احادیث راجمع کړي دي چي په صحیح سندونو را نقل سوي دي او هم علماوو ته منل سوي او په خپل منځ کي یې لاس پر لاس قبول کړي دي ، ځکه چي وايي بیخي زیاد شمېر احادیث په تکراري ډول را نقلول ځوک د حدیثو د معنا د فهمولو څخه اخته کوي او هم یې د حدیثو څخه د مسئلو د استنباط او را ایستلو څخه بوختوي او بل دا چي ځوک زیاد شمېر د سند له مخي سقیم یعني ناسم حدیثونه یادوي نو تر هغه دا غوره ده چي لږ صحیح حدیثونه یاد کړي .

د مسلم لوړ سند رباعیات یعني څلور کسیز سندونه دي چي په هغو کي یې یو دا دئ : حدثنا سوید بن سعید قال حدثنا مروان الفزاري عن أبي مالك سعد بن طارق عن أبیه رضي الله عنه قال سمعت رسول الله صلى الله علیه وسلم یقول من قال لا إله إلا الله وكفر بما یعبد من دون الله حرم ماله ودمه وحسابه على الله (مسلم)

ژباړه : رسول الله ﷺ فرمایلي دي ځوک چي لا اله الا الله ووايي او بېله الله جل جلاله څخه چي د کومو شیانو عبادت کیږي د هغو خدایي و نه مني نو د ده مال او وینه حرمت والا ګرځي او حساب یې پر الله جل جلاله دی .

سرچینه: http://www.taleemulislam-radio.com

پورتنی حديث مسلم د سويد ، مروان ، سعد او طارق په سند د رسول الله ﷺ څخه را نقل کړئ دئ .

امام النواوي رحمه الله وايي : امام مسلم د حديثو په فن کي ډېر کتابونه ليکلي دي چي يو يې همدا صحيح مسلم دئ چي نهايي ډېر شهرت لري او په تواتر ثابت دئ چي دا د امام مسلم تصنيف کړئ کتاب دئ .

د صحيح مسلم يوه ځانګړتيا دا ده چي د حديثو متن ته يې په ډېره اسانتيا څوک ځان رسولای سي او هم د حديث بېلابېل سندونه او په متن کي د اختلاف ټکي ور ته معلومېدلای سي ، ځکه امام مسلم هر متن په يو ور او مناسب ځای کي ليکلی دئ او بيا يې د همدې حديث ټول هغه سندونه چي ده ته د منلو او خوښۍ وړ دي ور سره يو ځای کړي دي او هم يې د متن مختلف الفاظ ښودلي دي چي د متعددو سندونو لکبله پر حديث باندي د طالب العلم اعتماد او باور زياتيږي او د متن په مختلفو الفاظو د حديث مراد او مفهوم ښه ترا واضح او څرګنديږي چي دا د صحيح مسلم يوه داسي ستره او ګټوره ځانګړتيا ده چي صحيح البخاري يې لا هم نه لري .

ابن الصلاح رحمه الله وايي امام مسلم ابوالزرعة ته راغی او د څه ګړي مجلس کولو څخه وروسته ځني ولاړ سو يو چا ابوالزرعة ته وويل : ده څلور زره احاديث په خپل کتاب کي را جمع کړي دي ابوالزرعة ور ته وويل : نور صحيح احاديث يې چا ته پرېښول ؟

شيخ ابن الصلاح وايي د څلورو زرو حديثونو څخه يې مراد غير تکراري حديثونه دي ، ځکه چي د صحيح مسلم حديثونه د تکراري حديثونو سره ۷۲۷۵ حديثونه کيږي .

امام مسلم رحمه الله صحيح مسلم د بابونو پر ډول ترتيب او وډلی دئ البته بابونو ته يې ترجمې او عنوانونه نه دي ورکړي . د صحيح مسلم په ځينو نسخو کي چي بابونو ته ترجمې او عنوانونه ورکول سوي دي دا نورو کسانو ورکړي دي لکه څه ډول چي امام

النواوي وايي د چا عنوانونه ښه او د چا ده بيا ناسم دي يا يې عبارت ناقص وي او يا يې الفاظ بې خونده او يا بله نيمګړتيا لري .

امام النواوي رحمة الله عليه وايي زه به ان شاء الله کوښښ وکړم چي هر باب ته په ډېر ښه تعبير د باب وړ ترجمه او عنوان ورکړم .

امام مسلم رحمة الله عليه د صحيح مسلم په مقدمه کي ليکلي دي چي زه احاديث پر درو برخو وېشم لومړی برخه هغه احاديث دي چي د حديثو د حافظانو څخه تر ټولو غښتلي او قوي حافظې لرونکو کسانو را نقل کړي دي. دوهمه برخه هغه احاديث دي چي راويان يې په حفظ او پياوړتيا کي ميانه او مستور دي او دريمه برخه بيا د ضعيفو او پرېښودل سوو راويانو حديثونه دي .

امام مسلم رحمة الله عليه وايي : چي د اول قسم څخه چي فارغ سم بيا د دوهم قسم حديث پسي بيانوم البته دريم قسم چي د کمزورو راويانو حديثونه دي هغه ته بيا هيڅ پام نه اړوم .

دا چي د امام مسلم د دې تقسيم څخه څه مراد دي علماء پدې کي مختلف نظرونه لري حاکم او بيهقي وايي مسلم د اولي ډلي احاديث را نقل کړي دي خو د دوهمي ډلي د احاديثو تر نقلولو وړاندي وفات سوئ دئ .

**پر صحيح مسلم ډيري شرحي ليکلي سوي دی چي يو شمېر يې په لاندي ډول دي :**

١ – المنهاج في شرح صحيح مسلم بن الحجاج : دا د امام حافظ أبو زکريا محيي الدين يحيی بن شرف الخرامي النووي رحمة الله عليه شرح ده . امام النووي شافعي مذهبه دئ چي په ٦٧٦ هجري قمري سنه کي وفات سوئ دئ .

٢ – إکمال المعلم في شرح صحيح مسلم : دا د قاضي عياض بن موسی اليحصبي رحمة الله عليه شرح ده قاضي عياض مالکي مذهبه دی چي په ٥٤٤ هجري قمري سنه کي وفات سوی دی پدی شرح المعلم بفوائد کتاب مسلم بشپړ سوئ دئ المعلم د ابو

عبدالله محمد بن علي المارزي رحمه الله چي په ۵۳٦ هجري قمري سنه کي وفات سوئ دئ شرح ده .

۳- المفهم لما أشكل من تلخيص كتاب مسلم : دا د أبو العباس أحمد بن عمر بن إبراهيم القرطبي رحمه الله چي په ٦۵٦ هجري قمري سنه کي وفات سوئ دئ شرح ده .

۴- إكمال المعلم : دا د أبو عبدالله محمد بن خليفة رحمه الله شرح ده محمد بن خليفه مالكي دی او په ۸۲۷ هجري قمري سنه کي وفات سوئ دئ پدې شرح کي يې د مارزي ، عياض ، قرطبي او نواوي څلور واړي مخکنی شرحي رانغښتي دي او نور څه يې هم پر زياد کړي دي .

۵- المفهم في شرح غريب مسلم : دا د عبد الغافر بن اسماعيل الفارسي رحمه الله شرح ده. عبدالغافر ۵۲۹ هجري قمري سنه کي وفات سوئ دئ .

٦- الديباج على صحيح مسلم بن الحجاج : دا د جلال الدين عبد الرحمن بن أبي بكر السيوطي رحمه الله شرح ده سيوطي په ۹۱۱ هجري قمري سنه کي وفات سوي دئ .

۷- منهاج الديباج بشرح صحيح مسلم بن الحجاج : دا د شهاب الدين أحمد بن محمد الخطيب القسطلاني رحمه الله شرح ده . قسطلاني شافعي مذهبه دی او په ۹۲۳ هجري قمري سنه کي وفات سوی دی .

دريم : امام ترمذي رحمه الله :

د سنن الترمذي د مؤلف كنيت ابو عيسي دئ ، نوم او نسب يې محمد بن عيسى بن سورة بن موسى بن الضحاک السلمي الضرير البوغي الترمذي رحمه الله دئ .

امام الترمذي رحمه الله په ۲۰۹ هجري کال کي زېږېدلی دئ او په ۲۷۹ هجري قمري سنه کي د ۷۰ کلونو په عمر وفات سوئ دئ البته سمعاني وايي : په ۲۷۵ سنه کي د بوغ په کلي کي وفات سوئ دئ .

بوغ د ترمذ د کلیو څخه یو کلی دئ ، د ترمذ ښارګوټی د بلخ د ویالې یعني د جیحون چي اوس د امو د سیند په نامه یادېږي پر شمالي کناره پروت دئ .

ترمذ رحمة الله علیه د ما وراء النهر د ښارونو په جمله کي راځي ، ځکه ما وراء النهر و هغو ښارونو ته وایي چي د امو د سیند و هغي خوا ته پراته دي لکه بخارا ، سمرقند ، جند ،خجند او داسي نور .

امام ترمذي رحمة الله علیه د احادیثو د حافظانو څخه یو ستر او مشهور حافظ دئ ، د امام بخاري ، امام مسلم او امام ابي داود رحمهم الله د شاګردانو څخه دئ او همدا ډول د دوئ د مشایخو او استاذانو څخه یې هم په بصره ، کوفه ، واسط ، ري ، خراسان او حجاز کي احادیث اوریدلي دي .

امام ترمذي د امام بخاري خلیفه او ځاي ناستی دئ ، وایي چي بخاري وفات سو خو د امام ترمذي په شان یې بل عالم ، حافظ ، زاهد او پرهېزګار شاه ته نه پرېښود دئ د امام ترمذي څخه بې شمېرو خلکو د احادیثو زده کړه کړې ده .

د ده د مناقبو او ښېګنو څخه یوه ښېګنه دا ده چي امام بخاري یو حدیث ورڅخه را نقل کړئ دئ البته د صحیح بخاري څخه د باندي . نو دا هم د امام ترمذي د پاره لوئ ویاړ او افتخار دی چي امام بخاري غوندي امام د یو حدیث روایت ورڅخه کوي .

د امام ترمذي رحمة الله علیه پر علمیت او فقاهت باندي د ده کتاب جامع الترمذي یو ښه شاهد دئ د امام ترمذي د تالیفاتو څخه یو شمائل الترمذي هم دئ چي دا په شمایلو کي د تالیف سوو کتابونو تر ټولو غوره او ښه کتاب دئ .

پر شمایل الترمذي ډېري شرحي لیکلي سوي دي لکه شرح القسطلاني ، شرح السیوطي ، شرح ابن الحجر المکي ، شرح ملا علي القاري ، شرح المناوي او داسي نور .

جامع الترمذي :

جامع الترمذي په صاح الستة کي دريم مقام لري او د سنن الترمذي په نامه هم يادېږي البته په جامع الترمذي زياد شهرت لري .

امام ترمذي رحمه الله وايي : ما دا کتاب د حجاز ، عراق او خراسان و علماوو ته وړاندي کړئ هغو ټولو خوښ کړئ او که د چا په کور کي جامع الترمذي وي نو لکه د هغه په کور چي د الله جل جلاله نبي وي او ور سره رغيږي .

امام ترمذي رحمه الله يو حديث په ثلاثي يعني درې کسيز سند هم را نقل کړئ دئ :

حَدَّثَنَا إِسْمَعِيلُ بْنُ مُوسَى الْفَزَارِيُّ ابْنُ بِنْتِ السُّدِّيِّ الْكُوفِيِّ حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ شَاكِرٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ الصَّابِرُ فِيهِمْ عَلَى دِينِهِ كَالْقَابِضِ عَلَى الْجَمْرِ (الترمذي )

ژباړه : پر خلکو داسي زمانه راتلونکې ده چي پر دين باندي صبر کونکی به يې داسي وي لکه د اور سکروټي چي چا په موټ کي نيولي وي .

دا حديث امام ترمذي د اسماعيل ، عمر او انس رضي الله عنه په سند د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه را نقل کړئ دئ تر دې وړاندي موږ يادونه کړې ده چي بخاري ۲۲ ثلاثيات لري .

په بستان المحدثين کي وايي : د امام الترمذي تصنيفونه ډېر دي خو تر ټولو غوره او ښه يې همدا جامع الترمذي دئ بلکي د ځينو وجهو لکبله د حديثو پر ټولو کتابونو غوره او احسن دئ پر نور کتابونو يې د غوره والي وجهي دا دي :

**لومړی** : جامع الترمذي په ډېر ښه ترتيب وډل سوئ دئ او تکرار هم نه لري .

**دوهم** : ترمذي رحمه الله د فقهاوو مذهبونه هم ذکر کړي دي او د هر مذهب والا د استدلال وجه يې هم بيان کړې ده

**دريم** : د حديثو ډولونه لکه صحيح ، حسن ، ضعيف ، غريب او معلل يې هم پکښي ښوولي دي .

**څلورم** : د راويانو نومونه ، لقبونه او کنيتونه يې هم پکښي بيان کړي دي .

سرچينه: http://www.taleemulislam-radio.com

دا څلور واړه د جامع الترمذي ډېري ښکلي او ګټوري ځانګړتیاوي دي چي د حدیثو په نورو کتابونو کي یې ساری نه لیدل کیږي .

ابو اسماعیل الهروي وايي : جامع الترمذي زما په اند تر بخاري او مسلم هم زیاد ګټور دئ ، ځکه د دې کتاب څخه هر څوک ګټه اخیستلای سي خو د بخاري او مسلم څخه بېله لویو علماوو څخه بل څوک ګټه نسي اخیستلای .

امام الترمذي وايي : د دې کتاب په ټولو حدیثونو عمل کول کیږي . د علماوو څخه څوک یې په یوه حدیث او څوک یې په بل حدیث استدلال او عمل کوي البته بېله دوو حدیثونو څخه چي په هغو باندي څوک عمل نه کوي یو د ابن عباس رضي الله عنه دا روایت :

أن النبي صلى الله عليه وسلم جمع بين الظهر والعصر بالمدينة والمغرب والعشاء من غير خوف ولا سفر ولا مطر . او بل دا حدیث چي نبي صلی الله علیه وسلم وايي :

إذا شرب الخمر فاجلدوه فإن عاد في الرابعة فاقتلوه .

د دې دواړو حدیثونو علت ما په کتاب کي بیان کړئ دئ .

**جامع الترمذي ډېري شرحي لري چي د هغو د جملې څخه یې څو په لاندي ډول دي :**

١ - عارضة الأحوذي في شرح الترمذي : دا د محمد بن عبدالله الاشبيلي رحمه الله چي په ابن العربي شهرت لري شرح ده . ابن العربي مالکي مذهبه دی او په **٥٤٦** هجري قمري سنه کي وفات سوئ دئ .

٢ - تحفة الأحوذي بشرح جامع الترمذي : دا د محمد عبد الرحمن بن عبد الرحيم المباركفوري أبو العلا رحمه الله شرح ده .

٣- العرف الشذي شرح سنن الترمذي : دا د مولانا محمد أنور شاه بن معظم شاه الكشميري الهندي رحمه الله شرح ده .

٤- قوت المغتذي على جامع الترمذي : دا د جلال الدين السيوطي شرح ده .

**۵- د حافظ أبو الفتح محمد بن محمد بن سید الناس الیعمري رحمة الله علیه شرح . ابو الفتح رحمة الله علیه شافعي مذهبه دی په ۷۳۴ هجري قمري سنه کي وفات سوئ دئ البته دا شرح د مؤلف لخوا تکمیل سوې نه ده بلکي حافظ زین الدین عبد الرحیم بن حسین العراقي رحمة الله علیه چي په ۸۰٦ کال وفات سوی دئ ور پسي تکمیل کړې ده .**

خلورم : امام ابو داود رحمة الله علیه :

**د سنن ابي داود د مؤلف کنیت ابوداود دئ او نوم یې سلیمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشیر بن شداد بن عمرو بن عمران الأزدي السجستاني رحمة الله علیه دئ.**

**د ابوداود رحمة الله علیه لوړ نیکه عمران د علي بن ابي طالب رضي الله عنه سره د صفین په جنګ کي وژل سوئ دئ ابوداود په ختهٔ عرب او د یمن د ازد د قبیلې څخه دئ .**

**ابوداود رحمة الله علیه په ۲۰۲ هجري کال په سجستان کي زېږېدلی دئ او په ۲۷۵ هجري سنه کي د شوال پر ۱۵ نېټه د جمعې په ورځ په بصره کي وفات سوئ دئ او هم هلته ښخ کړل سوئ دئ .**

**سجستان چي د ابوداود رحمة الله علیه نسبت ورته کیږي یعني سجستاني ورته ویل کیږي د هرات جنوبي خوا ته وطن دئ او خطیب محب الدین د موارد ظمآن په مقدمه کي وایي:**

أن سجستان هي بلاد الأفغان الآن وهي في الحقيقة القسم الجنوبي من بلاد الأفغان.

**ژباړه : سجستان د اوسني افغان د ښارونو څخه دئ او په حقیقت کي د افغان د جنوبي قسمت په ښارونو کي راځي .**

**هغه ښارونه چي ابوداود رحمة الله علیه زیات پکښي اوسېدلی دئ یو یې خپل ښار سجستان دئ او همدا راز په خراسان، ری ، هرات ، کوفه ، طرطوس ، دمشق ، مصر او بصره کي هم ډېر اوسېدلی دئ .**

ابوداود رحمة الله علیه د اسلام د سترو هغو حافظانو څخه دئ چي بې شميره نبوي احاديث يې ياد وه او د رسول الله ﷺ د احاديثو علم يې په ډېره پراخه کچه درلودئ او همدا راز د حديثو د عللو ، متونو ، رجالو او د فقهي علومو ستر څښتن وو .

د ابوداود رحمة الله علیه د علميت مقام د دې څخه څرګنديږي چي امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه هم د ده څخه د يو حديث روايت کړئ دئ او ابوداود به پدې ډېر فخر کاوه او بل داچي وايي : سهل بن عبدالله تستري و أبو داود رحمهما الله .ته راغئ او ورته و يې ويل : اې ابوداوده ! زه سهل ستا د زيارت د پاره راغلی يم او زما ستا سره څه کار دئ .

ابوداود رحمة الله علیه ورته وويل : څه کار دي دئ ؟

سهل ورته وويل : تر هغه مهاله چي زما د حاجت د پوره کولو وعده را نه کړې خپل حاجت نه درته بيانوم . ابوداود رحمة الله علیه ورته وويل : که ما ته يې کول ممکن وه نو حاجت به دي پوره کړم . سهل رحمة الله علیه ورته وويل : ته دي خپله ژبه را ته را وباسه چي د رسول الله ﷺ احاديث په بيانوې ترڅو زه يې مچ کړم او ابوداود همداسې وکړه .

دا د ابوداود د لوړ علمي مقام څرګندونه کوي چي سترو علمي شخصيتونو ته دومره زيات د قدر وړ وو .

ابوداود رحمة الله علیه د حديثو د تخصص تر څنګ لوئ فقيه هم وو او ابو الحسن شيرازي په طبقات الفقاء کي د امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه د ملګرو څخه شمېرلی دئ

د ابوداود په مذهب کي اختلاف دئ څوک وايي حنبلي دئ او څوک وايي شافعي دئ .

ابوداود رحمة الله علیه څو ځلي بغداد ته هم تللی دئ او په بصره کي اوسېدلی دئ او بيا په بصره کي د جمعې په ورځ د شوال د مياشتي پر ۱۵ نېټه په ۲۷۵ هجري سنه کي وفات سو او د سفيان الثوري د قبر څنګ ته ښخ کړل سوئ دئ .

ابوداود د امام بخاري او امام مسلم رحمهم الله د مشايخو څخه هم حديثونه اورېدلي دي لکه احمد بن حنبل ، عثمان بن ابي شيبة ، قتيبة بن سعيد رحمهم الله او همداسي نورو امامانو څخه يې حديث اورېدلي دي .
د ابوداود رحمه الله څخه د ده خپل زوئ عبدالله ، أبو عيسى محمد بن عيسى الترمذي ، أبو عبد الرحمن النسائي ، أبو علي اللؤلؤي او نورو ډېرو کسانو حديث اورېدلي دي .

سنن ابي داود :

سنن ابي داود د سليمان بن الأشعث بن اسحاق الأزدي السجستاني رحمه الله تصنيف دئ .
ابوداود رحمه الله يو ثلاثي يعني په درې کسيز سند حديث لري کوم چي د رسول الله ﷺ د حوض په هکله يې د مسلم بن إبراهيم ، ابن السلام بن أبي حازم او أبو برزة رضي الله عنه په سند يې را نقل کړئ دئ .
ابوداود رحمه الله وايي : ما د رسول الله ﷺ پنځه لکه احاديث ليکلي دي او د سنن ابي داود حديثونه مي د هغو پنځو لکو حديثونو څخه راچاڼ کړي دي .
ابود اود رحمه الله وايي : په سنن ابي داود کي مي ۴۸۰۰ داسي احاديث ليکلي دي چي هغه يا صحيح دي او يا صحيح ته ورته يا نژدې دي خو د دغو ۴۸۰۰ حديثونو څخه د يو انسان د دين لپاره دا څلور حديثونه کفايت کوي .
**لومړی** : إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ لِدُنْيَا يُصِيبُهَا أَوْ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْه (ابوداود)

ژباړه : د عملونو ثوابونه په نیتونو پوري تړلي دي او هر سړي لره بس هغه څه رسیږي چي نیت یې کړی وي نو که د چا هجرت د الله جل جلاله او د الله د رسول ﷺ د پاره وي د هغه هجرت د الله او د الله د رسول د پاره ګڼل کیږي او که چا هجرت د دنیا لاس ته راوړلو د پاره یا د ښځي سره د نکاح تړلو د پاره کړی وي نو د هغه هجرت د هغه څه د پاره دی چي ده هجرت ور کړئ دئ .

**دوهم** : مِنْ حُسْنِ إِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَا لَا يَعْنِيه .

ژباړه : د سړي د اسلام د ښه والي څخه د بې معنا ویناوو او کارونو پرېښول دي .

**دریم** : لا يكون المؤمن مؤمنا حتى يرضى لأخيه ما يرضاه لنفسه .

ژباړه : مؤمن تر هغه مهاله کامل مؤمن کېدلای نسي تر څو چي د خپل مسلمان ورور د پاره هغه څه خوښ و نه لري کوم چي د ځان د پاره یې خوښ لري .

**څلورم** : إِنَّ الْحَلَالَ بَيِّنٌ وَإِنَّ الْحَرَامَ بَيِّنٌ وَبَيْنَهُمَا أُمُورٌ مُشْتَبِهَاتٌ وَسَأَضْرِبُ لَكُمْ فِي ذَلِكَ مَثَلًا إِنَّ اللَّهَ حَمَى حِمًى وَإِنَّ حِمَى اللَّهِ مَا حَرَّمَ وَإِنَّهُ مَنْ يَرْعَى حَوْلَ الْحِمَى يُوشِكُ أَنْ يُخَالِطَهُ وَإِنَّهُ مَنْ يُخَالِطُ الرِّيبَةَ يُوشِكُ أَنْ يَجْسُرَ(ابوداود)

ژباړه : یقینا حلال څرګند دي او یقینا حرام څرګند دي د حلالو او حرامو تر منځ شبهې والا کارونه دي او د دې مثال به زه در ته بیان کړم یقینا الله جل جلاله ممنوعه علاقه ټاکلې ده او د الله ممنوعه علاقه هغه شیان دي چي الله جل جلاله حرام کړي دي . او خبره دا ده که څوک د ممنوعه علاقې ګردچاپېر رمه پیایي ژر به هغه په ممنوعه علاقه کي ور ګډیږي او هم دا چي که څوک په شکمن کار کي شکېلیږي ژر به هغه پر حرامو هم جرئت کوي .

شاه عبد العزیز الدهلوي رحمة الله علیه وایي : دا څلور حدیثونه چي د چا د دین د پاره د ابوداود په وینا کفایت کوي د هغه مقصد دا دئ چي د شریعت د مشهورو او کلي قاعدو

د زده کړي څخه وروسته د پيښو په جزئياتو کي يې و مجتهد او مرشد ته اړتيا نه پيدا کيږي ځکه لومړی حديث يعني د نيت اصلاح يې د عبادتونو د صحت د پاره بسنه او کفايت کوي

دوهم حديث يعني د بې معنا کارونو پرېښول يې د عمر د قيمتي وختونو د ضايع کولو د مخنيوي د پاره کفايت کوي .

دريم حديث يعني پر مسلمانانو د ځان په شان پيرزوينه لرل يې د خپلوانو ، ګاونډيانو ، پيژندويانو او معامله ګرو د حقونو د مراعات د پاره کفايت کوي .

څلورم حديث يعني د شکمنو کارونو څخه ځان ساتنه يې د هغه شک او تردد د دفع کولو د پاره کفايت کوي چي د علماوو او دلايلو د اختلاف لکبله را منځ ته کيږي .

امام النواوي رحمة الله عليه وايي : څوک چي په فقه او نورو ديني علومو بوخت وي نو هغه ته پکار ده چي د سنن ابي داود بشپړ معرفت او علم ورته حاصل وي ، ځکه د احکامو زياته برخه هغه احاديث چي استدلال په کيږي په سنن ابي داود کي را جمع سوي دي او د دئ تر څنګ په ډېره اسانتيا حديثونه ځني را ايستل کيږي .

ابوسليمان الخطابي رحمة الله عليه وايي : په سنن ابي داود کي د صحيح او حسن دواړه ډولونه احاديث سته البته ضعيف حديثونه خپل منځ کي ډولونه لري د ضعيفو حديثونو تر ټولو بد او ناوړه ډول موضوع دئ ( موضوع هغه حديث ته وايي چي يو درواغجن د خپل ځان څخه جوړ کړئ وي ) ور پسې مقلوب او بيا مجهول دئ .

سنن ابي داود د موضوع ، مقلوب او مجهولو حديثونو څخه پاک او بري دئ .

امام ابوداود رحمة الله عليه وايي ما په سنن ابي داود کي يوازي د احکامو احاديث را جمع کړي دي د زهد ، فضايلو او داسي نورو ډېر صحيح احاديث سته خو هغه ما دلته نه دي را نقل کړي .

د ابوداود رحمة الله علیه څخه حکایت کیږي چي وايي ما په سنن ابي داود کي داسي حديث نه دئ ليکلی چي هغه د ټولو خلکو په اند پرېښودل سوئ حديث وي يعني داسي حديث وي چي څوک هم عمل نه په کوي .

حافظ أبو جعفر بن الزبير رحمة الله علیه وايي سنن ابي داود د څلورو کسانو په متصل سند د ابوداود څخه تر موږ را رسېدلی دئ

**لومړی :** ابو بکر بن محمد بن بکر بن عبد الرزاق التمار البصري رحمة الله علیه چي په ابن داسة شهرت لري .

**دوهم :** ابو سعيد احمد بن محمد بن زياد بن بشر رحمة الله علیه چي په ابن الأعرابي شهرت لري .

**دريم :** ابو علي محمد بن أحمد بن عمرو اللؤلؤي البصري رحمة الله علیه .

**څلورم :** ابو عيسى إسحاق بن موسى بن سعيد الرملي رحمة الله علیه .

د ابن الاعرابي په روايت کي څه برخي ساقطي سوي دي چي د هغو څخه کتاب الفتن ، کتاب الحروف ، کتاب الخاتم او تقريبا نيمه برخه د کتاب اللباس هم ده همدا ډول د کتاب الوضوء ، کتاب الصلاة او د کتاب النکاح ډيري پاڼي ځني پاته سوي دي .

د ابن داسة رحمة الله علیه روايت تر ټولو کامل او بشپړ دئ او دې ته نژدې د رملي رحمة الله علیه روايت دئ البته د لؤلؤي رحمة الله علیه روايت تر ټولو اصح روايت دئ ، ځکه د رملي روايت د ابوداود تر مړيني مخته تر ټولو وروستی املا ده د دې څخه وروسته يې چا ته نه دئ لوستی .

شاه عبد العزيز الدهلوي وايي د لؤلؤي روايت په ختيځ کي شهرت لري او د ابن داسة روايت په لويديځ کي رواج لري او دا دواړي نسخې ويو و بل ته نژدې دي په کمي او زياتي کي اختلاف نه لري بلکي اختلاف يې يوازي په تقديم او تاخير کي دئ .

په کشف الظنون کي وايي : حافظ عبد العظيم بن عبد القوي المنذري رحمة الله علیه سنن ابي داود مختصر او لنډ کړی دي او د المجتبي په نامه يې نوملی دئ . حافظ منذري

په کال ٦٥٦ سنه کي وفات سوئ دئ . امام سيوطي پر المجتبى د زهر الربى على المجتبى په نامه کتاب ليکلی دئ .

ابو سليمان احمد بن إبراهيم الخطابي رحمة الله عليه بيا د معالم السنن په نامه د ابوداود شرح کړې ده . ابوسليمان الخطابي ته د وطني نسبت لکه البستي هم وايي ځکه د بست دی د بست کلا د هلمند په مرکز لښکر ګاه کي مشهوره تاريخي کلا ده . ابوسليمان په ٣٨٨ سنه کي وفات سوئ دئ

د سنن ابي داود د شرحو څخه يوه د ابو الطيب محمد شمس الحق العظيم آبادي رحمة الله عليه شرح ده د عون المعبود شرح سنن أبي داود په نامه يادېږي .

پنځم : امام نسايي رحمة الله عليه

د سنن النسايي مؤلف أبو عبد الرحمن بن شعيب بن علي بن بحر بن سنان بن دينار النسائي رحمة الله عليه دئ نَساء په خراسان کي د يو ښار نوم دئ او و همدغه ښار ته د نسبت لکبله نَسائي ورته ويل کيږي .

امام نسائي رحمة الله عليه په ٢١٥ هجري سنه کي ځوک بيا وايي چي په ٢١۴ هجري سنه کي زيږيدلی دئ محمد بن اسحاق وايي ابوعبدالرحمن النسائي د خپل عمر په وروستيو کلونو کي د مصر څخه دمشق ته ولاړی او هلته د حضرت علي رضي الله عنه د پلوي لکبله د ځينو معاوية پلوو کسانو لخوا د ستونزو سر مخ سو آن تر دې چي په ډډې کي په وهلو وهلو تر مسجد وايستل سو . د دې زړه دردونکي واقعې څخه وروسته د فلسطين د رملې ښار ګوټي ته بوتلل سو او هلته وفات سو البته دارقطني رحمة الله عليه وايي مکې مکرمې ته بوتلل سو او هلته د دوشنبې په ورځ د صفري پر ١٣ نېټه په ٣٠٣ هجري سنه کي وفات سو .

امام نسائي رحمة الله عليه شافعي مذهبه او د خپل عصر د ډېرو لوړو منل سوو علماوو څخه وو

امام نسائي د حميد بن مسعدة، عمران بن موسى ، قتيبة ابن سعيد ، إسحاق بن إبراهيم ، علي بن حجر ، علي بن حشرم ، محمد بن بشار ، أبو داود السجستاني ، مجاهد بن موسى ، أحمد ابن عبدة رحمهم الله او د خراسان ، حجاز ، عراق ، جزيرة ، شام ، مصر او نورو ښارونو کي د استاذانو څخه حديث اورېدلي دي البته د احمد بن حنبل رحمه الله څخه يې زياد روايات را نقل کړي دي .

حميد بن مسعدة، عمران بن موسى او علي بن حجر رحمهم الله د امام نسايي د هغو استاذانو څخه دي چي په رباعي يعني په څلور کسيز سند يې د نسائي روايت و رسول الله ﷺ ته رسولی دئ او د نسايي تر ټولو لوړ او عالي سند همدا رباعي يعني څلور کسيز سند دئ .

ابو بشر الدولابي، أبوالقاسم الطبراني او أبو جعفر الطحاوي د امام نسايي د شاګردانو څخه دي .

سنن النسايي :

سنن النسايي د ابوعبد الرحمن بن شعيب النسائي رحمه الله تصنيف دئ د دې څخه وړاندي ده د السنن الکبرى په نامه کتاب ليکلی دئ .

ابن الاثير رحمه الله وايي : د اميرانو څخه يو چا د امام نسايي څخه د السنن الکبري په هکله پوښتنه وکړه چي ايا ټول احاديث يې صحيح دي ؟ نسايي ورته وويل : يا نو بيا هغه ورته وويل : د دې کتاب صحيح حديثونه په جلا ډول وليکه ده هم داسي وکړه د السنن الکبري څخه يې صحيح حديثونه را بېل کړل د المجتبي من السنن په نامه يې ونوماوه .

د امام نسايي رحمه الله د رباعياتو يعني په څلور کسيز سند کي د را نقل سوو حديثونو څخه يو دا دئ :

أخبرنا حميد قال حدثنا عبد الوارث قال حدثنا شعيب عن أنس بن مالك رضي الله عنه قال قال رسول الله {صلى الله عليه وسلم} قد أكثرت عليكم في السواك .

ژباړه : رسول الله ﷺ وفرمايل : د مسواک په هکله مې ډېر ځله حکم درته کړئ دئ .

دا حديث امام نسايي د حميد ، عبدالوارث ، شعيب او انس بن مالک ﷺ په سند د رسول الله ﷺ څخه را نقل کړئ دئ .

محد ثين چي ووايي : دا حديث نسايي را نقل کړئ د هغه څخه يې مقصد دا دئ چي په المجتبى يعني سنن النسايي کي يې را نقل کړئ دئ او دا کتاب يې يو د الصحاح الستة څخه دئ .

پر سنن النسايي باندي جلال الدين عبد الرحمن بن أبي بكر السيوطي ، نور الدين بن عبدالهادي أبو الحسن السندي رحمة الله عليهم حاشيه ليکلې ده . امام سندي په ۱۱۰۹ هجري سنه کي وفات سوي دي .

شپږم : امام ابن ماجه رحمة الله عليه !

د امام ابن ماجه کنيت أبو عبد الله دی او نوم يې محمد بن يزيد بن عبد الله ابن ماجه الربعي القزويني رحمة الله عليه دئ .

ماجه د صحيح قول له مخي د ابن ماجة د مور نوم دئ او څوک وايي چي ماجه يې د پلار لقب وو نو ځکه د نسب په سلسله کي بن ماجه نه ليکل کيږي بلکي ابن ماجه په الف ليکل کيږي څو څرګنده سي چي دا د مخکني نامه يعني عبد الله د پاره صفت نه دئ بلکي د ابوعبدالله محمد صفت دئ لکه عبدالله بن مالک ابن بحينة چي ليکل کيږي دلته مالک د بحينة زوئ نه دئ بلکي د عبد الله پلار مالک دئ عبد الله بن مالک ورته وايي او د عبد الله د مور نوم بيا بحينة ده نو عبدالله ته ابن بحينة هم ويل کيږي .

ابن ماجه د جبارة بن المفلس ، إبراهيم بن المنذر ، ابن نمير ، هشام بن عمار او نورو څخه حدیثونه اوریدلي دي خو د حدیثو زیاته زده کړه یې د أبي بکر بن أبي شیبة رحمة الله علیه څخه کړې ده .

أبو الحسن القطان ،عیسی الأبهري او نورډېر کسان د ده د لوړو شاګردانو څخه دي .

ابن ماجه د حدیثو د لیکنې د پاره عراق ، بصرې ، کوفې ، بغداد ، مکې ، شام ، مصر او الری ته سفرونه کړي دئ او د قرآنکریم تفسیر او د تاریخ کتاب یې هم تصنیف کړئ دئ او د حدیثو کتاب سنن ابن ماجه یې د الصحاح السته د جملې څخه دئ .

ابن ماجه په ۲۰۹ هجري سنه کې پیدا سوئ دئ او د دوشنبې په ورځ د روژې نهه ورځې پاته وې چې په ۲۷۳ سنه کې وفات سو . د جنازې لمونځ خپل ورور ابوبکر ور ته ورکړی او خپل زوی عبدالله او وړونو ابوبکر او عبدالله یې د ښخولو چارې انجام کړې .

سنن ابن ماجة :

سنن ابن ماجة د حافظ ابوعبدالله بن یزید بن ماجه القزویني رحمة الله علیه تصنیف دی ابن ماجه په ۲۷۳ سنه کې وفات سوئ دئ .

د ابن ماجه د ثلاثیاتو څخه یعني په درې کسیز سند د رانقل سوو احادیثو څخه یو دا دئ : حدثنا جبارة قال حدثنا كثير قال سمعت أنس بن مالك رضي الله عنه يقول سمعت رسول الله {صلى الله عليه وسلم} يقول من أحب أن يكثر خير بيته فليتوضأ إذا حضر غداؤه وإذا رفع .

ژباړه : رسول الله ﷺ فرمایلي دي : که څوک خوښ لري چې د کور خیر یې زیات سي نو د ښاښتي خواړو د حاضرېدلو او هم د پورته کېدلو په وخت کې دي اودس تازه کوي یعني د دوډۍ خوړلو دمخه او وروسته دي لاسونه پرېولي .

دا حدیث ابن ماجة د جبارة ، کثیر او انس بن مالک په سند د رسول الله ﷺ څخه را نقل کړئ دئ .

شیخ عبدالحق دهلوي رحمة الله علیه وایي : سنن ابن ماجة یو د هغو اسلامي کتابونو څخه دئ چي د الأصول الستة ، الکتب الستة او الصحاح الستة په نامه یادیږي .

څه مهال چي محدثین د یو حدیث په هکله ووایي : رواه الجماعة د هغه مقصد دا دی چي دا حدیث صحاح سته را نقل کړئ دئ او څه مهال چي ووایي : رواه الأربعة د هغه څخه یې مقصد دا دئ چي دا حدیث د بخاري او مسلم څخه ماسیوا د صحاح سته پاته شپږو کتابونو یعني ابوداود ، ترمذي ، نسایي او ابن ماجه رانقل کړئ دئ .

ابن ماجة د جبارة المفلس په سند یو شمېر ثلاثیات لري البته ابن ماجه د قزوین د ښار په فضیلت کي یو حدیث د داود بن المحبر ، الربیع بن صبیح او یزید بن ابان په سند را نقل کړئ دئ دا درې واړه راویان ضعیف دي تر داسي اندازې چي داود او یزید د درواغو حدیثونو په جوړولو متهم او تورن دي او دا حدیث یې هم موضوعي یعني د درواغو حدیث دئ د همدغه حدیث لکبله پر ابن ماجه نیوکه کیږي .

ابن ماجه رحمة الله علیه وایي ما دا کتاب ابوالزرعة ته وړاندي کړئ هغه وکتی او ویې ویل که دا کتاب د خلکو لاس ته ورسي نو دا نور زیات شمېر جوامع به ځني پاته سي او ښایي چي ضعیف حدیثونه دي یې د پرشو ته لا هم و نه رسیږي .

په سنن ابن ماجه کي ۴۰۰۰ څلور زره حدیثونه دي . د کتابونو عنوانونه یې لکه کتاب الصلوة او داسي نور یې ۳۲ کیږي او د بابونو شمېر یې ۱۵۰۰ پنځلوسووو ته رسیږي .

ابن الاثیر رحمة الله علیه وایي : سنن ابن ماجه په فقه کي مفید او ګټور کتاب دئ البته نهایي ضعیفه او منکر احادیث هم پکښې سته د حافظ المزي څخه ویل کیږي چي وایي د ابن ماجه هغه حدیثونه چي یوازي ده را نقل کړي غالبه یې ضعیفه دي .

په همدې اساس یو شمېر کسانو ابن ماجه په صحاح سته کي نه دئ شمېرلی بلکي موطا مالک یې د صحاح سته شپږم کتاب ګرځولی دی .

حافظ ابن حجر وايي اول نفر چي ابن ماجه يې په صحاح سته کي شميرلی دی فضل ابن طاهر دی وروسته حافظ عبد الغني په کتاب الاکمال في أسماء الرجال کي په صحاح سته کي شمېرلی دئ او پر موطا مالک يې مخته کړئ دئ .

د ابن ماجه د يو شمېر شرحو نومونه او مولفين پدې ډول دی :

١ – په کشف الظنون کي وايي : د ابن ماجه يوه برخه په پنځو ټوکو کي حافظ علاء الدين مغلطاي بن قليج رحمة الله عليه شرح کړې ده . حافظ علاء الدين په ٧٦٢ سنه کي وفات سوئ دئ .

٢ – مصباح الزجاجة على سنن ابن ماجه بيا د جلال الدين السيوطي رحمة الله عليه شرح ده .

٣ – شيخ أبو الحسن بن عبد الهادي السندي رحمة الله عليه هم پر ابن ماجه شرح ليکې ده . امام سندي په ١١٠٩ سنه کي وفات سوئ دئ .

۴ – همدا ډول الشيخ الصالح التقي عبد الغني بن الشيخ أبي سعيد المجددي الدهلوي رحمة الله عليه د إنجاح الحاجة په نامه د ابن ماجه شرح ليکې ده .

امام مالک رحمة الله عليه :

امام مالک رحمة الله عليه د مشرتوب او علمي مقام لکبله پکار وه چي تر ټولو مخته ذکر سوئ وای خو مخته مو ځکه ذکر نه کړئ چي مورږ د الصاح السته او د دورې د کتابونو په ترتيب د دې سترو محدثينو او د هغو د هغو کتابونو چي د دورې په نصاب کي تدريس کيږي لنډ تعارف کوو نو ځکه د صحاح سته وروسته امام مالک رحمة الله عليه او د هغه موطا در پيژنوو .

د امام مالک کنيت أبو عبدالله دی نوم او نسب يې مالک بن أنس بن أبي عامر بن عمرو بن الحارث دئ مالک په ٩٥ هجري سنه کي زيږېدلی دئ البته يحي بن بکير چي د مالک د ځانګړو شاګردانو څخه دئ وايي په ٩٣ سنه کي زيږېدلی دئ .

د ابن خلكان په وينا د ربيع الاول په مياشت كي په ۱۷۹ هجري سنه كي د ۸۴ كلونو په عمر په مدينه منوره كي وفات سوئ دئ او د جنة البقيع په هديره كي ښخ كړل سوئ دئ د امام مالك رحمة الله عليه د زېږېدني او مړيني په نېټه كي يولړ نور قولونه هم را نقل سوي دي .

امام مالك رحمة الله عليه د تبع التابعين څخه دئ د امام الزهري او د ابن عمر د مولا يعني ازاد كړي مريي نافع ، جعفر بن محمد الصادق ، يحي بن سعيد ، عبد الله بن دينار رحمهم الله څخه يې حديث اورېدلي دي د ربيعة الرأي څخه يې هم زده كړه كړې ده امام الأوزاعي او يحيى بن سعيد د مالك څخه روايت كړئ دئ .

د امام مالك رحمة الله عليه څخه بې شمېرو كسانو علم حاصل كړی دئ د شاګردانو په جمله كي يې دا ستر اشخاص هم دي : سفيان الثوري ، سعيد بن منصور ، عبد الله بن المبارك ، الشافعي ، محمد بن إبراهيم بن دينار ، ابن عبد الرحمن المخزومي ، عبد العزيز بن أبي حازم همدا ډول د بخاري ، مسلم ، أبو داود ، ترمذي ، احمد بن حنبل او د يحيى بن معين استاذانو هم د مالك رحمة الله عليه څخه زده كړه كړې ده لكه معين بن عيسى القزاز ، عبد الملك بن عبد العزيز الماجشون ، يحيى بن يحيى الأندلسي ، عبدالله بن مسلمة القعنبي ، عبدالله بن وهب ، اصبغ بن الفرج رحمهم الله او د دوی څخه علاوه د احاديثو امامانو د مالك رحمة الله عليه څخه زده كړه كړې ده .

امام ترمذي رحمة الله عليه د أبو هريرة رضي الله عنه څخه روايت كوي او وايي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي : يوشك أن يضرب الناس بأكباد الإبل يطلبون العلم فلا يجدون أحدا أعلم من عالم المدينة (الترمذي)

ژباړه : ژر به خلك د علم په تلاښ كي اوښان په پندو په ډډي كي وهي خو د مديني تر عالم به بل ستر عالم پيدا كولای نسي . عبد الرزاق او سفيان بن عيينه رحمة الله عليه وايي چي د مديني د عالم څخه مالك بن أنس مراد دئ .

سرچينه: http://www.taleemulislam-radio.com

عبدالله بن المبارک رحمة الله عليه وايي زه د مالک سره وم هغه حديث بيانول د مالک رنګ به تغيير وخوړئ ، مخ به يې ژړ سو خو حديث يې نه قطع کول . د مجلس څخه وروسته چي خلک سره ولاړل ما ورته وويل : اې ابوعبد الله ! نن مي ستا يو عجيب حالت وليدئ مالک راته وويل هو ! شپاړس ځلي لړم وچيچلم خو ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم د حديثو د احترام لکبله ځان ټينګ کاوه او پر خوړ به مي صبر کاوه .

مالک رحمة الله عليه د ديني علم زيات تعظيم کاوه د حديثو د بيانولو د پاره به يې اودس تازه کاوه ږيره به ږمونځول عطر به يې په ځان وهله او بيا به ډېر په سنګنۍ تدريس ته کښېناستئ پر لاري په ولاړي او تلوار به يې د حديثو بيانول خوښ نه لرل .

د مالک رحمة الله عليه وينا ده : علم نور دئ چيري چي الله جل جلاله وغواړي هلته يې پيدا کوي او علم په زيات روايت کولو سره نه دئ .

د مالک رحمة الله عليه علم په اخلاص د الله جل جلاله د پاره وو د ده د اخلاص د پاره د شافعي دا حکايت بسنه او کفايت کوي چي وايي زه د مالک سره وم ۴۸ مسئلې ځني وپوښتل سوې مالک د ۳۲ پوښتنو په جواب کي ورته وويل : لا أدري يعني د دې پوښتني جواب نه راته معلوميږي ځوک چي په علم کي مخلص نه وي نو د هغه نفس به کله هم د پوښتني په جواب کي لا ادري قبول نه کړي بلکي هرومرو به څه په جواب کي د ځان څخه ورته وايي .

مالک رحمة الله عليه د چا څخه طمع نه لرل تر هر شي علم ورته د احترام وړ وو د مالک څخه حکايت دئ وايي يو ورځ هارون رشيد ته ورغلم هغه را ته ويل : اې ابوعبدالله ! تا ته پکار ده چي موږ ته راځې ترڅو زموږ کوچنيان ستا څخه موطا واوري دی مبارک وايي ما ورته وويل : الله جل جلاله دې زموږ امير په عزت لري دا علم ستاسو څخه را وتلی دئ که تاسو يې قدر او درناوی کاوه علم به قدرمن وي او که تاسو يې سپکاوی وکړ ئ نو علم به بې قدره وي ، خلک په علم پسي ځي او علم په خلکو پسي نه ځي .

هارون رشید ورته وویل : ربنتیا دي وویل خپلو کوچنیانو ته یې حکم وکړئ : مسجد ته ور وځئ ترڅو د نورو سره یو ځای حدیث واورئ .

موطا مالک :

موطأ د مالک بن أنس رحمة الله علیه تالیف دئ په حدیثو کي البته د احکامو په برخه کي تر ټولو لومړنی تصنیف دئ . د موطا صحت ، شهرت او مقبولیت ټولو ته منل سوي دئ وایي : هر چا چي صحیح احادیث را جمع کړي دي هغه د مالک رحمة الله علیه پر لاره تلی او د هغه پر پله یې پل ایښی دئ او الفضل للمتقدم فضیلت مخکني کس ته دئ .

ابو القاسم بن محمد بن حسین الشافعي رحمة الله علیه وایي : د مالک څخه روایت سوي مشهوري او په معنا کي سره نژدې موطا وي (۱۱) یولس دي البته مستعملي کومي چي کار ځني اخیستل کیږي (۴) څلور موطاوي دي .

(۱) د یحیی بن یحیی موطا (۲) د ابن بکیر موطا (۳) د ابو مصعب موطا (۴) د ابن وهب موطا . وروسته د ابو مصعب او ابن وهب د موطاوو استعمال هم کم سوئ دئ .

مولانا عبد العزیز الدهلوي رحمة الله علیه په بستان المحدثین کي وایي : د زرو په شاوخوا کي محدثینو ، فقهاوو ، صوفیانو ، امیرانو ، پاچانو او خلیفه ګانو د تبرک لکبله د امام مالک په زمانه کي د هغه څخه د موطا روایت کړئ دئ چي د هغو څخه نن ورځ په عربي نړۍ کي یو لږ شمېر نسخي موندل کیږي .

په موجوده نسخو کي تر ټولو زیات شهرت او رواج لرونکې د یحیی بن یحیی المصمودي الاندلسي رحمة الله علیه نسخه ده او څه مهال چي فقط د موطا نوم یاد سي نو د هغه څخه همدا د یحیی بن یحیی المصمودي الاندلسي رحمة الله علیه نسخه مراد ده .

**د یحي بن یحي د نسخې په پیل کي داسي راغلي دي :**

بسم الله الرحمن الرحيم وقوت الصلاة مالك عن ابن شهاب أن عمر بن عبد العزيز أخر الصلاة يوما فدخل عليه عروة بن الزبير ..... .

**دوهمه :** نسخه د عبدالله بن وهب بن سلمة الفهري المصري رحمة الله عليه ده د دې نسخې په پيل کې راغلي دي :

أخبرنا مالك عن أبي الزناد عن الأعرج عن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال أمرت أن أقاتل الناس حتى يقولوا لا إله إلا الله وإذا قالوا لا إله إلا الله عصموا مني دماءهم وأموالهم وأنفسهم إلا بحقها وحسابهم على الله .

**دريمه :** نسخه د عبدالله بن مسلمة القعنبي رحمة الله عليه په روايت ده .

**څلورمه :** نسخه د ابن القاسم الفقيه المالكي رحمة الله عليه په روايت ده .ابن القاسم لومړی کس دئ چې د امام مالک رحمة الله عليه مذهب يې تدوين کړئ دئ .

**پنځمه :** نسخه د ابو يحي معن بن عيسى المدني القراز رحمة الله عليه په روايت ده .

**شپږمه :** نسخه د عبدالله بن يوسف التنيسي رحمة الله عليه په روايت ده .

**اوومه :** نسخه د يحيى بن بکير رحمة الله عليه په روايت ده

**اتمه :** نسخه د سعيد بن عضير المصري رحمة الله عليه په روايت ده .

**نهمه :** نسخه د ابو مصعب الزهري رحمة الله عليه په روايت ده .

**لسمه :** نسخه د مصعب بن عبدالله الزهري رحمة الله عليه په روايت ده .

**يولسمه :** نسخه د محمد بن مبارک الصوري رحمة الله عليه په روايت ده .

**دولسمه :** نسخه د سلمان بن يزيد په روايت ده .

**ديارلسمه :** نسخه د يحيى بن يحيى التميمي رحمة الله عليه په روايت ده .

**څوارلسمه :** نسخه د أبو حذافة أحمد بن اسماعيل السهمي رحمة الله عليه په روايت ده .

**پنځلسمه :** نسخه د سويد بن سعيد الهروي الحد ثاني رحمة الله عليه په روايت ده .

**شپاړسمه :** نسخه د امام محمد بن الحسن الشيباني رحمة الله عليه په روايت ده .

امام محمد رحمة الله علیه :

د امام محمد کنیت ابوعبدالله نوم او نسب یې محمد بن الحسن بن الفرقد الشیباني دي . د محمد پلار په اصل کې د دمشق د حرستا د کلي دی بیا د هغه ځای څخه عراق ته راغلی دئ د عراق د واسط په ښار کي محمد په ۱۳۲ سنه کي زیږېدلی او د کوفې په ښار کي را لوی سوئ دئ .

امام محمد د ابوحنیفه رحمة الله علیه د خصوصي شاګردانو څخه دئ او حدیث یې د مسعر بن کدام ، سفیان الثوري ، عمرو بن دینار ، مالک بن مغول ، امام مالک بن انس ، امام الاوزاعي ، ربیعة بن صالح ، بکیر او امام ابویوسف رحمة الله علیهم څخه اورېدلي دي .

امام محمد په بغداد کي اوسېدلی دئ او هلته یې حدیث تدریس کړي دي ، د امام محمد څخه امام شافعي محمد بن ادریس ، ابوسلیمان موسي بن سلیمان الجوزاني ، هشام بن عبیدالله الرازي ، ابوعبید القاسم بن سلام ، علي بن مسلم الطوسي ، ابوحفص الکبیر او خلف بن ایوب رحمة الله علیهم روایت کړئ دئ.

هارون رشید په الرقه ښار کي قاضي وټاکئ هلته یې د الرقیات په نامه کتاب هم تصنیف کړئ دئ د قضا څخه د معزوله کېدلو وروسته بغداد ته راغلی څه مهال چي هارون رشید د لومړي ځل د پاره د الري ښار ته ولاړئ دی یې هم هلته د ځان سره بوتلی او په ۱۸۷ هجري سنه کي د ۵۸ کلونو په عمر په الري کي وفات سو .

امام محمد دوه کلونه د ابوحنیفة رحمة الله علیه په تعلیمي مجلسونو کي ګډون کړئ دئ او وروسته یې پر ابویوسف فقه ویلې ده .

امام محمد ډېر کتابونه تصنیف کړي او د ابوحنیفه علم همده خپور کړئ دئ .

امام شافعي رحمة الله علیه وایي : حملت من علم محمد وقر بعیر . ما د محمد د علم څخه د اوښ د بار په شان علم لاس ته راوړئ دئ .

موطا محمد :

د امام مالک د موطا د مختلفو نسخو او راویانو اړوند څه معلومات مخته درکول سو ه. موطا محمد د امام مالک د موطا هغه نسخه ده چي امام محمد یې روایت ځني کړی دئ . البته د مالک څخه علاوه د ابوحنیفة او ځینو نورو ائمه و څخه یې هم یو شمېر

روایات پکښي را نقل کړي دي . د یادوني وړ ده چي امام محمد درې کلونه د امام مالک شاګرد او سېدلی دئ .

شیخ محمد عابد سندي مدني وايي د امام محمد په روایت کي د موطا پر مشهوره روایت څه زیاتوب ستهاو بل دا چي یو شمېر داسي حدیثونه پکښي نسته کوم چي په نورو موطاوو کي راغلي دي .

امام محمد په موطا کي د یو حدیث یا څو حدیثونو د بیانولو څخه وروسته د ابوحنیفه رحمة الله علیه دریځ یا په عمومي ډول د احنافو دریځ او همدا راز خپل دریځ او موقف که د ابوحنیفه څخه بېل وي هم بیانوي .

د مثال په ډول د موطا لومړی حدیث یې د لمانځه د وختونو په هکله د ابوهریرة رضي الله عنه څخه داسي رانقل کړی :

باب وقوت الصلاة قال محمد بن الحسن : أخبرنا مالك بن أنس عن يزيد بن زياد مولى بني هاشم عن عبد الله بن رافع مولى أم سلمة رضي الله عنها زوج النبي صلى الله عليه و سلم عن أبي هريرة أنه سأله عن وقت الصلاة فقال أبو هريرة أنا أخبرك : صل الظهر إذا كان ظلك مثلك والعصر إذا كان ظلك مثليك والمغرب إذا غربت الشمس والعشاء ما بينك وبين ثلث الليل فإن نمت إلى نصف الليل فلا نامت عيناك وصل الصبح بغلس

ژباړه : عبدالله بن رافع رضي الله عنه د ابوهریرة رضي الله عنه څخه د لمانځه د وختونو پوښتنه وکړه ابوهریرة ورته وویل زه دي په خبروم تر څه مهاله چي سایه دي د ځان په اندازه وي د ماپښین لمونځ اداء کوه ، د مازیګر لمونځ هغه وخت اداء کوه چي سایه دي دوه چنده وګرځي او د ماښام لمونځ چي څه مهال لمر ولوېږي اداء کوه او د ماخستن لمونځ دي بیا د شپې تر دریمي برخي اداء کوه ، که تر نیمي شپې بیده سي ( یعني د لمانځه مختته ) نو ستر ګي دي مه بدېږه او د سهار لمونځ په تیاره کي اداء کوه .

پدې موقوف حديث کي د مازيګر د لمانځه وخت مثلين يعني د شي د سايې د دوه چندي وخت ذکر سوئ دئ او د سهار د لمانځه وخت غلس يعني تياره ذکر سوې ده د حديث په پای کي امام محمد وايي :

هذا قول أبي حنيفة رحمه الله في وقت العصر وكان يرى الإسفار في الفجر

ژباړه : دا د مازيګر په وخت کي د ابوحنيفه وينا ده او د سهار لمونځ يې په روښنايي کي ښه باله يعني د ابوهريرة رضي الله عنه په موقوف حديث کي چي د مازيګر او د سهار د لمونځونو وختونه ذکر سوي دي د مازيګر د لمانځه په وخت کي د ابوحنيفة رحمة الله عليه قول د ابوهريرة د وينا موافق دئ او د سهار د لمانځه په وخت کي ځني مخالف دئ .

د مازيګر د لمانځه په وخت کي ابويوسف او محمد د ابوحنيفة رحمة الله عليهم د قول څخه مخالف دي بلکي دوی دوه هم د مالک شافعي او احمد بن حنبل رحمة الله عليهم په شان وايي چي د مازيګر د لمانځه وخت د يو چندئ څخه وروسته پيل کيږي نو د ابوهريرة د حديث په پای کي د ابوحنيفة د دريځ د بيانولو وروسته يې خپل دريځ بيا داسي بيا ن کړی دئ :

وأما في قولنا فإنا نقول : إذا زاد الظل على المثل فصار مثل الشيء وزيادة من حين زالت الشمس فقد دخل وقت العصر . وأما أبو حنيفة فإنه قال: لا يدخل وقت العصر حتى يصير الظل مثليه .

اما زموږ په وينا نو موږ ( ابويوسف او محمد ) وايو د يو شي سايه چي تر هغه شي زياته سي يعني د زوال د وخت څخه د يو شي سايه د هغه شي په اندازه او يو څه لا زياته سي نو د مازيګر د لمانځه وخت داخليږي او هر څه چي ابوحنيفه دئ د هغه په آند د مازيګر وخت تر هغه مهاله نه داخليږي چي د شي سايه د هغه دوه چنده سوې نه وي .

د موطا محمد تر ټولو وروستی حديث دا دئ :

أخبرنا مالك عن عبدالله بن عمر أن رسول الله {صلى الله عليه وسلم} قال إن أجلكم فيما خلى من الأمم كما بين صلاة العصر إلى مغرب الشمس وإنما مثلكم ومثل اليهود والنصارى كرجل استعمل عمالا فقال من يعمل لي إلى نصف النهار على قيراط قيراط فعملت اليهود ثم قال من يعمل من نصف النهار إلى العصر على

قيراط قيراط فعملت النصارى على قيراط قيراط ثم قال من يعمل لي من صلاة العصر إلى مغرب الشمس على قيراطين قراطين ألا فأنتم الذين تعملون من صلاة العصر إلى مغرب الشمس على قيراطين قيراطين قال فغضب اليهود والنصارى وقالوا نحن أكثر عملا وأقل عطاء قال هل ظلمتكم من حقكم شيئا قالوا لا قال فإنه فضلي أوتيه من أشاء .

ژباړه : رسول اللهﷺ فرمايلي دي : ستاسو د ژوند ميعاد د مخکنيو امتونو په پرتله لکه د مازيګر د لمانځه څخه بيا تر لمر لويدو پوري دئ . ستاسو او د يهودو او نصاراوو مثال په اجوره او ثواب کي داسي دئ لکه يو سړی چي کاريګر پر کار ودروي او ووايي : څوک د ورځي تر نيمايي په يوه يوه قيراط کار کوي ؟ نو يهودو کار وکړ . بيا ووايي څوک د نيمي ورځي څخه تر مازيګر پوري په يوه يوه قيراط کار کوي ؟ نو نصاراوو په يوه يوه قيراط کار وکړی . بيا ووايي : څوک د مازيګر د لمانځه څخه تر لمر لويدو په دوه دوه قيراطه کار کوي ؟ اګاه اوسئ تاسي هغه کسان ياست چي د مازيګر د لمانځه څخه تر لمر لويدو په دوه دوه قيراطه کار کوئ .

رسول الله ﷺ و فرمايل : يهود او نصار په غضب کي سول او ويې ويل : موږ کار زياد کړی دئ خو بخششي مو کمه ده . الله جل جلاله ورته وويل : ايا ستاسو په حق کي مي د يو معمولي شي ظلم در سره کړی دئ؟ هغو وويل : يا نو الله وويل چي دا زما فضل دی چا ته چي وغواړم هغه ته يې ورکوم .

د همدې حديث په پای کي امام محمد رحمه الله عليه وايي :

هذا الحديث يدل على أن تأخير العصر أفضل من تعجيلها ألا ترى أنه جعل ما بين الظهر إلى العصر أكثر مما بين العصر إلى المغرب في هذا الحديث ومن عجل العصر كان ما بين الظهر إلى العصر أقل مما بين العصر إلى المغرب فهذا يدل على تأخير العصر وتأخير العصر أفضل من تعجيلها ما دامت الشمس بيضاء نقية لم تخالطها صفرة . وهو قول أبي حنيفة رحمه الله والعامة من فقهائنا رحمهم الله تعالى

ژباړه : دا حدیث پر دې دلالت کوي چې د مازیګر د لمانځه ځنډول تر وختي اداء کول افضل دي ته نه وینې ؟ پدې حدیث کې د ماپښین او مازیګر تر منځ وخت تر هغه وخت زیات بلل سوئ دئ چې د مازیګر او ماښام تر منځ دئ نو که څوک د مازیګر لمونځ وختي اداء کړي نو بیا د ماپښین او مازیګر تر منځ وخت د مازیګر او ماښام تر منځ د وخت څخه کمیږي .

نو دا د مازیګر پر ځنډولو دلالت کوي د مازیګر لمونځ تر هغه مهاله ځنډول چې لمر لا ځلانده ، صفا وي او ژړ تیا په ګړه سوې نه وي تر وختي اداء کول افضل دي او دا د ابو حنیفة رحمة الله علیه او زموږ د عامو فقهاوو وینا ده .

پورتنی حدیث یوازې د امام محمد او ابن قاسم په موطا کې را نقل سوئ دئ .

ملا علي القاري رحمة الله علیه د امام محمد پر موطا شرح لیکې ده او زموږ په ښارونو همدا موطا هم رواج او شهرت لري .

امام طحاوي رحمة الله علیه :

د طحاوي کنیت أبو جعفر دی نوم او نسبب یې أحمد بن محمد بن سلامة بن عبدالملک بن سلمة الأزدي الطحاوي رحمة الله علیه دئ . په ۲۲۹ هجري سنه کې زېږېدلی دئ او په ۳۲۱ سنه کې وفات سوئ دئ . طحا د مصر کښتنی خوا ته کلی دئ همدا کلي ته د طحاوي نسبت کیږي .

امام طحاوي رحمة الله علیه په پیل کې شافعي مذهبه وو پر خپل ماما امام المزني یې شافعي فقه لوستل وروسته یې خپل ماما پرېښوئ پر احمد بن ابي عمران یې د حنفي فقې زده کړه پیل کړه وایي : د طحاوي څخه چا پوښتنه وکړه : تا ولې د خپل ماما د مذهب څخه مخالفت وکړئ ؟ ده ورته وویل : دا ځکه چې زما ماما به تل د ابو حنیفه رحمة الله علیه د مذهب کتابونه مطالعه کوله .

امام طحاوي رحمة الله علیه د حنفي فقهي زده کړه د ابوجعفر احمد بن ابي عمران رحمة الله علیه څخه هغه د محمد بن السماعة څخه هغه د ابویوسف څخه هغه د ابو حنیفة رحمة الله علیهم څخه کړې ده او بیا شام ته تللی دئ هلته یې د حنفي فقهي زده کړه د شام د قاضي القضاة ابو حازم

څخه هغه د عیسي بن ابان څخه هغه د محمد بن الحسن الشیباني څخه هغه د ابوحنیفة رحمهم الله علیهم څخه کړې ده او د حنفي فقې امام وګرځېد .
امام طحاوي رحمة الله علیه معتمد او ښکلي تصنیفونه لري چې یو شمېر یې دا دي :
۱ - شرح معاني الاثار : دا د طحاوي رحمة الله علیه لومړنۍ تصنیف دئ .
۲ - مشکل الاثار : دا د طحاوي رحمة الله علیه وروستنۍ تصنیف دئ .
احکام القران ، المختصر في الفقه ، شرح الجامع الکبیر ، شرح الجامع الصغیر ، کتاب الشروط الکبیر ، کتاب الشروط الاوسط ، کتاب الشروط الصغیر ، مناقب الامام ابي حنیفة او داسي نور .

شرح معاني الاثار :

شرح معاني الاثار ته معاني الاثار هم وایي دا د أبو جعفر أحمد بن محمد بن سلامة بن عبدالملک بن سلمة الأزدي الطحاوي رحمة الله علیه په خپل سند د حدیثو کتاب دئ .
شرح معاني الاثار لکه څه ډول چې یې نوم دئ همدا ډول امام طحاوي رحمة الله علیه د نبوي احادیثو مراد او مفهوم په حدیثو سره تشریح او بیان کړئ دئ .
امام طحاوي رحمة الله علیه د کتاب په پیل کې د شرح معاني الاثار په هکله څرګندونه کړې ده د ده د څرګندونې مراد داسې دی وایي:
د علماوو څخه زموږ ځینو ملګرو غوښتنه را څخه وکړه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د رانقل سوو احادیثو کتاب ولیکم او په دا کتاب کې د احکامو هغه ډول حدیثونه را جمع کړم چې د ملحدانو په خیال هغه یو د بل نقیض او په ټکر کې دي او همدا راز کمزروي مسلمانان یې یو د بل سره ضد او ټکر ګڼې ځکه چې هغوئ یې په ناسخ او منسوخ لږ علم لري .
همدا راز په دا کتاب کې هغه احادیث را جمع کړم چې په هغه باندي عمل کول لازم دي هغه لدې کبله چې قراني ایت یا د ټولو په آند ثابت سوی حدیث یې شاهد او ګواه وي .
او دا کتاب زه پر بابونو وویشم په هر باب کې د هغه اړوند ناسخ او منسوخ حدیثونه او د علماوو تاویلات ذکر کړم او هم دا چې فقهاوو څرنګه یو د بل په وړاندې په احادیثو

استدلال کړی دئ هغه هم بیان کړم او بیا زما په آند چي د چا وینا صحیح ده د هغه د پاره د قران ، حدیثو اجماع او د صحابه وو او تابعینو د ثابتو ویناوو له مخي حجت او دلیل وړاندي کړم .

پدې غوښتنه کي مي فکر وکړئ او سخته څیړنه مي وکړه د هغه د غوښتني پر ترڅ مي بابونه ورکړه . بابونه مي د کتابونو تر عنوان لاندي راوستل په هر کتاب کي مي د یوه جنس بابونه راوستل نو اول شئ چي ما یې په بیانولو شروع کړې ده هغه د رسول الله ﷺ څخه د طهارت په هکله را نقل سوي حدیثونه دي چي د هغه څخه باب الماء تقع فیه النجاسة دی .


شرح معاني الاثار د احنافو د مذهب په تایید کي ډېر مفید کتاب دئ ، ځکه امام طحاوي رحمه الله د احکامو اړوند احادیثو معنا او مفهوم په احادیثو بیان کړئ دئ او په اختلافي مسایلو کي یې د احنافو دریځ او موقف رجحان په احادیثو او قانع کونکو دلایلو ثابت کړئ دئ .

د فضیلت د پګړۍ لیکنه د دوشنبې په سهار پر ۴ رجب ۱۴۳۲ چي د ۱۳۹۰ د جوزا د ۱٦ نیټې سره سمون خوري پای ته ورسیده .

نسال الله حسن الخاتمه و به نستعین و الحمد لله رب العالمین

سرچینه: http://www.taleemulislam-radio.com

Download from:
www.aghalibrary.com




سرچينه: http://www.taleemulislam-radio.com